# بانک

د افغانستان بانک میاشتنۍ

څوارلسم کال، ۱۵۸ ګڼه د ۱۳۹۹ د زمري میاشت





## هموطنان گرامی!

## بیرق ملی، سرود ملی و پول ملی ارزش های ملی ما هستند

# د افغانستان بانک خبرتیا!

د مخکینۍ خبرتیا په تعقیب، د افغانستان بانک یو ځل بیا درنو هېوادوالو ته خبر ورکوي چې په مرکز او یو شمېر ولایتونو کې ځینې وګړي لا هم د فورکس د آنلاین سوداګرۍ په نوم مالي معاملې ترسره کوي. د افغانستان بانک تر اوسه هیڅ وګړي یا شرکت ته د فورکس آنلاین فعالیتونو جواز صادر کړی نه دی او په دې برخه کې ټول فعالیتونه غیر قانوني دي. له کومه چې د دغو وګړو او شرکتونو سره معاملې بې خطره نه دي او د هېوادوالو لپاره مالي زیانونه رامنځ ته کوي، د افغانستان بانک له درنو هېوادوالو څخه په کلکه غوښتنه کوي چې د دا شان وګړو او شرکتونو سره له معاملو څخه ډډه وکړي.

د افغانستان بانک په هڅه کې دی چې هغه وګړي چې دا شان فعالیتونه ترسره کوي، وپېژني او عدلي او قضایي ارګانونو ته یې معرفي کړي.

# بانک


صاحب امتیاز: د افغانستان بانک

هیئت تحریر: داکتر جهانتاب ولیزار و نصر الله ستانکزی

سردبیر:

مدیر مسئول: یما عفیف

گزارشگران: حسیب الله نوری و عبدالحفیظ شاهین

دیزاین: خالد احمد فیضی

فوتوژورنالیست: زیرک ملیا

مسئول چاپ و توزیع: تمیم احمد صمیمی



آدرس: د افغانستان بانک

تیلفون: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۴۷۶۱

فکس: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۰۳۰۵

پُست الکترونیکی: magazine@dab.gov.af

صفحهٔ الکترونیکی: www.dab.gov.af



شمارهٔ ثبت: ۶۵۸



www.facebook.com/AFGCentralbank

twitter.com/AFGCentralbank

Da Afghanistan Bank-Youtube

Da Afghanistan Bank-Google+


## د دې ګڼې مطالب


افزایش کشت زعفران؛ بهبود اقتصاد کشور را به همراه دارد

بانکي خدمتونو د وړاندې کولو په موخه د درې اړخیزه هوکړه لیک لاسلیکول

از کارکردهای سرپرست ریاست کُل د افغانستان بانک تقدیربعمل آمد

د بیرغ د ملي ورځې درناوی، د هېواد د ملي هویت او ارزښتونو درناوی دی

فعالیت های اقتصادی غازی امان الله خان

د افغانستان زعفران او په نړیوالو مارکیټونو کې یې غوره ځای

افغانستان؛ نیازمند کمک های مالی بانک جهانی

اوبه؛ افغانستان د برېښنا د تولید په برخه کې ځان بسیاینې ته رسوي

تلاش در جهت بهبود ساختاری نظام تادیات

اقتصادي خبرونه

په آسیا کې د بازل III تطبیق، ستونزې او ننګلارې

موبایل پیسې(Mobile Money) څه ته وایي؟

مختصری در مورد علم اقتصاد

چټک غبرګون کوډ( QR Code ) څه ته وایي او په تادیاتو سیستم کې...

په سوداګرۍ کې د آنلاین بازار موندنې ارزښت

پیوند دیجیتل سازی با زنده گی بشریت



**یاد آوری:** به غیر از سرمقاله که دیدگاه رسمی"بانک" است، مسئولیت مضامین و مقالات دیگر به نویسنده‌گان آن بر می گردد.

استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مأخذ مجاز است.




# افزایش کشت زعفران؛ بهبود اقتصاد کشور را به همراه دارد

زعفران افغانستان که در سطح جهان چند بار مقام اول را از آن خود کرده است، در سال ۲۰۲۰ میلادی نیز در سطح جهان از نگاه نام و ذایقه جایزه جام الماس را بدست آورده و مقام اول را کسب کرد.

زراعت که یکی از سکتور های اقتصادی و بسیار مهم کشور محسوب می گردد، نقش برازندۀ را در تقویت اقتصاد خانواده ها و تولید نا خالص داخلی کشور ایفاء می کند. بهبود و افزایش در محصولات زراعتی، می تواند تأثیرات مطلوبی را بالای رشد تولید ناخالص داخلی و اقتصاد کشور بجا بگذارد.

زمین های کشور برای کشت و زرع انواع نباتات و حبوبات مناسب و مساعد بوده و اکثریت مردم جهت حصول درآمد، مصروف فعالیت و اشتغال درین سکتور اند. اگر مردم و زارعین با همکاری و حمایت دولت به توسعه فعالیت های زراعتی شان بپردازند، هم در تأمین هزینه های خود و هم در رشد تولید ناخالص داخلی سهم فعال ایفاء خواهند کرد.

زعفران یکی از محصولات قیمت بها است. این محصول در کشور ما نیز برای بار اول در ولایت هرات کشت گردید که با گذشت هر روز شهرت جهانی یافته و تقاضا برای آن در مارکیت های ملی و بین المللی هر روز بیشتر می گردد.

با درنظر داشت مسایل فوق، توجه جدی به کشت زعفران و افزایش در صادرات آن، دهاقین کشور را به ترویج و کشت بیشتر از پیش این محصول تشویق خواهد نمود تا کشت آنرا توسعه داده و در بهبود اقتصاد کشور سهم فعال گیرند.

افزایش در میزان حاصلات و صادرات زعفران نه تنها اینکه باعث ایجاد زمینه های شغلی برای هموطنان می گردد، بلکه وسیله کسب درآمد و بلند بردن سطح زنده گی دهاقین، رشد تولید ناخالص داخلی، ورود اسعار به کشور و در کُل تقویت اقتصاد کشور را در پی خواهد داشت.

# بانکي خدمتونو د وړاندې کولو په موخه د درې اړخیزه هوکړه لیک لاسلیکول



د افغانستان بانک، افغان پُست او د افغانستان د بانکونو ټولنې ترمنځ درې اړخیزه هوکړه لیک لاسلیک شو. د دې هوکړه لیک بنسټیزه موخه له نمایندګۍ پرته بانکي خدمتونو ته د عامه خلکو د لاسرسی په موخه د لازمه اسانتیاوو د برابرولو په برخه کې همکاري ده .

د افغانستان بانک د لوی ریاست سرپرست ښاغلي اجمل احمدی لپاره تر ټولو مهمه موضوع د بانکي خدمتونو او د ډیجټلي اداینو د زیاتیدو له لارې د مالي خدمتونو پراختیا ده. د دې هوکړه لیک لاسلیکول د افغانستان بانک،یادې موخې ته د رسیدو لپاره یو ګام نږدې کوي. د دې هوکړه لیک پر بنسټ بانکونه کولای شي د افغان پُست شرکت د شعبو(پُسته خانو) په کارولو سره په ټول هېواد کې بانکي خدمتونه وړاندې کړي. افغان پُست یو دولتي اداره ده چې په ټول هېواد کې له ۴۵۰ څخه د زیاتو پُستي نمایندګیو له لارې پُستي خدمتونه وړاندې کوي. دا اداره به له بانکونو سره په هوکړه لیک کې درج شوې معاملې د بانکي قوانینو او مقرراتو په رڼا کې ترسره کوي.

د دې هوکړه لیک سمدستي ګټې عبارت دي له :

- د هېواد په ډېری سیمو کې د یوې بانکي نمایندګۍ درلودلو لپاره تر ټولو لنډه او سمدستي لار؛
- د دې پر ځای چې د ولایت مرکز ته سفر وکړئ، د ولایتونو په ډېری سیمو کې د ښوونکو د معاشونو د ورکړې ظرفیت؛
- په ټول هېواد کې د پورونو د وړاندې کولو لپاره تر ټولو لنډه لار؛





## از کارکردهای سرپرست ریاست کُل د افغانستان بانک

# تقدیربعمل آمد

محترم اجمل احمدی، سرپرست ریاست کُل د افغانستان بانک از طرف اتحادیه سراسری صرافان و خدمات پولی مورد تقدیر قرار گرفت.

اعضای اتحادیه محترم صرافان و خدمات پولی کشور از کارکردهای سرپرست ریاست کُل د افغانستان بانک قدردانی نموده و پیشرفت ها در بخش صرافی و خدمات پولی را از زحمات و تلاش های پیگیرانه ایشان عنوان نمودند.

سرپرست ریاست کُل د افغانستان بانک به مسئولین اتحادیه صرافان وعده همکاری های بیشتر داد و یادآوری نمود که د افغانستان بانک خواهان ایجاد تسهیلات بهتر، وضعیت خوبتر و هماهنگی بیشتر در فعالیت های صرافی و خدمات پولی میباشد.

محترم اجمل احمدی سرپرست ریاست کُل د افغانستان بانک در ادامه سخنانش افزود که در دو ماه اخیر در بانک مرکزی در بخش جواز ، ایجاد هماهنگی بیشتر بین اتحادیه و د افغانستان بانک و تسهیلات لازم دیگر نیز به وجود آمده است.

در این جلسه مسئولین اتحادیه سراسری صرافان و خدمات پولی تعهد نمودند تا قوانین، مقررات و طرزالعمل های کاری مربوط به بخش مؤسسات مالی غیر بانکی را در اجراات خویش مدنظر داشته و جداً رعایت نمایند.

در پایان این جلسه به سرپرست ریاست کُل د افغانستان بانک از سوی مسئولین اتحادیه به رسم اعزاز دستار و چپن اعطا گردید.



# د بیرغ د ملي ورځې درناوی،

## د هېواد د ملي هویت او ارزښتونو درناوی دی

۱۳۹۹ د زمري ۷ ـ د افغانستان بانک کې د زمري په اوومه چې د بیرغ له ملي ورځې سره سمون لري، د روغتیایي تدابیرو په پام کې نیولو سره غونډه جوړه او په اوړدو کې یې ملي بیرغ ورپاوه.



د افغانستان بانک د لوی ریاست سرپرست ښاغلي اجمل احمدي په هغه غونډه کې چې د دې بانک د بېلابېلو شعبو د آمرین هم په کې حاضر وو، ګډون وکړ او د دې ورځې نمانځنه یې د هېواد د ملي هویت او ارزښتونو درناوی وباله. ښاغلي احمدي زیاته کړه ملي بیرغ زمونږ د ملي هویت، ویاړ او اقتدار نښه ده او د ملي بیرغ رپاندتیا یې د هېوادوالو د ملي ځواک او یووالي په معنی وبلله.



ښاغلي اجمل احمدي د دې پروګرام په پای کې، د بیرغ د ملي ورځې د نمانځنې په مناسبت د هېواد ټول غیور او زړور ملت ته مبارکي وویله او د لوی خدای ج له درباره یې په هېواد کې د تلپاتې سولې غوښتنه وکړه، څو ګران هېوادوال د امن په چاپیریال کې د یو بل ترڅنګ ژوند وکړي.



# فعالیت های اقتصادی

# غازی امان الله خان









غازی امان الله خان فرزند امیر حبیب الله خان و نواسه امیر عبدالرحمن خان است که در سال ۱۸۹۲ میلادی در پغمان کابل چشم به جهان گشود.

وی بعد از فوت پدرش در سال ۱۹۱۹ میلادی به قدرت رسید و در همین سال از انگلیس ها استقلال افغانستان را به دست آورد و برای ۱۰ سال پادشاه افغانستان ماند.

غازی امان الله خان به فعالیت ها و پیشرفت های اقتصادی افغانستان علاقه زیادی داشت و در زمان قدرت خویش برای آبادانی کشور کارهای بنیادی را انجام داده است که در این مقاله فعالیت های اقتصادی دوره پادشاهی وی مورد بحث قرار میگیرد.

غازی امان الله خان در دورهٔ سلطنت ده ساله خود توجه خاصی به توسعه صنایع اقتصاد و تجارت خارجی داشت. در زمان وی کالاهای افغانستان راه خود را به بازارهای جهانی پیدا نمود و شهرهای جدیدی را اعمار کرد که از آن جمله شهر کابل نسبت به گذشته چند برابر گسترش یافت. شاهراه ها بین ولایات بازسازی شد و هوتل هایی در کابل، جلال آباد، پغمان و مقر برای ایجاد سهولت برای مسافرین ساخته شد.

غازی امان الله خان در سال ۱۳۰۷ هجری شمسی وزارتی را بنام اقتصاد ملی ساخت و سپس اداراتی را به نام های ادارهٔ ترانسپورت ملی، ادارهٔ صنایع دستی و ادارهٔ باصلاحیت صنعت و زراعت ایجاد کرد و در این دوره قانون مالیات مالداری را به تصویب رساند. در این میان مکتبی را پیرامون اصول اداری در کابل تأسیس کرد تا بتواند امور اداری

کشور را بهتر اداره کند و فارغ التحصیلان این مکتب در ادارات مالیاتی دولتی به کار گماشته شدند. با به کار افتادن این افراد سیستم های قدیمی از بین رفت و سیستم های جدید شهری و مُدرن به وجود آمد.

شاه امان الله خان اولین بنیانگذار چاپ بانکنوت های کاغذی در افغانستان نیز پنداشته میشود. در پهلوی تحولات دیگر سیستم پولی نیز به حال خود باقی نماند و در کنار سکه های طلایی، نقره‌یی، مسی و فلزی به منظور ایجاد تسهیلات در انتقالات پولی، پول های کاغذی نیز طبع و نشر گردید.

نخستین نوت های کاغذی به شکل بسیار ابتدایی در سال ۱۲۹۸ هجری شمسی در داخل کشور به طبع رسید که روی اول این نوتها دیزاین و نوشته داشت، اما روی دوم این نوتهای کاغذ سفید بود و مثل تکت لاتری کُنده داشت که توسط شبکه از آنها جدا میگردید. نمبر نوت و کُنده با هم یکی بوده که کُنده در بانک میماند و نوتها بخاطر چلش به داد و ستد پا میگذاشت. در سال ۱۹۲۳، چون از یکطرف کاغذ این نوتها خراب و از نوع کاغذ اخباری بود و از سوی دیگر چاپ آن بسیار ساده و ابتدایی بود، از همینرو در ۱۸ دلو سال ۱۲۹۹ فرمان جمع آوری این نوتها صادر گردید و بانکنوتهای جدید با کیفیت بالا در خارج از کشور به چاپ رسید. این بانکنوتها، شامل انواعیه یک افغانی، پنج افغانی، بیست افغانی، بیست و پنج افغانی، پنجاه افغانی و صد افغانی بود.

قابل ذکر است که در دوره پادشاهی شاه امان الله خان علاوه بر قانون مقیاس، قانون تشویق صنعت نیز تصویب شد. این قانون راه را برای توسعه صنعت هموار کرد. تجارت توسعه یافت و بسیاری از آداب و رسوم ناگوار برچیده شد، همچنین بارهای سنگین تحمیل شده بر زارعین، مالدارن و تجار که از طرف دولت های پیشین وضع شده بود، کاهش یافت و شاه امان الله خان قوانینی را برای آموزش کارمندان بخش زراعت و مالیات نیز به تصویب رساند و مکتبی از حکام تأسیس شد که فارغ التحصیلان آن به ادارات محلی توظیف می شدند. باید گفت که در عین زمان، قانونی برای تنظیم کارمندان و مسئولان دولتی نیز تصویب کرد.

در سلسله اصلاحات، محاکم ویژه تجارتی تأسیس شد و شرکت هایی همچون تنویرات، موتر سازی، داروسازی و شرکت های تجارتی اتحاد جماهیر شوروی آغاز به کار کردند و دولت برای نخستین بار به نام های امانیه و ثمر شرکت های تجارتی دولتی را نیز ایجاد کرد.

در این زمان توافقنامه تجارت با کشور انگلیس امضا شد و در کشورهای همسایه نمایندگان تجارتی ( قنسل ها و نمایندگان تجاری) به کار گماشته شدند. دولت با کشور جرمنی حق کامله الوداد را به دست آورد ( کامله الوداد آوردن تسهیلات به کشور سومی در بخش تعرفه ها و محصول میباشد) حق تجارت آزاد را با کشور پولند به دست آورد و افغانستان با مسکو و برلین سندهای تسهیلات تجارتی را امضا نمود.

در زمان غازی امان الله خان راه تجارتی ابریشم توسعه یافت و به بخشهای ترانسپورتی دیگر نیز توجه صورت گرفت. خط ریل آهن گشایش یافت و از کشور آلمان سه عراده ریل خریداری گردید. این ریل ها از کارخانه دهمزنگ تا پغمان به فاصله ۷ کیلو متر فاصله داشت، در عین زمان با کشور های آلمان و فرانسه قراردادهای ساخت خط آهن که مناطق شمال را با جنوب افغانستان وصل میساخت صورت گرفت. غازی امان الله خان تعدادی از میدان های هوایی داخلی را بین شهرهای بزرگ کشور افتتاح کرد و پیوندهای میدان های هوایی را با کشورهای خارجی برقرار نمود.

»

در کشور ۲۴۴ کیلو متر سرک به طور اساسی و پخته ساخته شد و معدنیات زیاد کشف شد که این کار سبب شد که اقتصاد کشور رونق یابد و در بخش سرمایه گذاری توجه کشورهای بیرونی را جلب نماید.

در این دوره، ولایات به وسیله خطوط تلگراف و تیلفون با پایتخت وصل شدند و برای بندهای برق کابل، جلال آباد و قندهار سب ستیشن ها ساخته شد و برای کارخانه های چرم، باروت، سمنت و قند برق داده شد.

کارخانه های ساخت موتر، پرزه جات موتر، تولید اسلحه، صابون، عطر، نخ، تکه، نجاری، یخ، پنبه و روغنیات در کابل، قندهار، هرات و مزارشریف تأسیس شد. همچنان فابریکه های استخراج آب و روغن، قند، نساجی، دکمه سازی، نگهداشت میوه، پروسس پنیر، مسکه و لبنیات نیز ساخته شد.

کار بر روی ایجاد خدمات پوستی از راه هوایی بین کابل–مزارشریف–شوروی–ایران و ترکیه و خدمات پستی زمینی بین کابل و هند آغاز شد. در همین وقت کار بندهای غازی و سراج غزنی به اتمام رسید و کارهای بند آب چمکنی و نهر رازق نیز آغاز گردید.

در همین حال، برنامه های برای شروع کار روی معادن لاجورد بدخشان و نفت هرات و همچنان ساخت فابریکه ذوب آهن، پروسس زغال سنگ، سرب، ابرک، تباشیر و سنگ مرمر به راه انداخته شد.

در این دوره برای تنظیم جنگلات پکتیا و اسمار، تکثیر نسل اسب، توسعه نسل قرقل و پیله وری پلان های همه جانبه اتخاذ گردید.

برای اولین بار به شهر کابل برق داده شد، قصر دارالامان اعمار گردید و در همین منطقه سنگ تهداب کابل نو گذاشته شد. در این دوره، فابریکه حربی ایجاد گردیده و از کشور های خارجی سیستم دافع هوا طیارات، موترهای زره پوش و ۱۱ طیاره خریداری گردید.

بالاخره از اثر سعی و تلاش همه جانبه غازی امان الله خان برای اصلاحات در کشور عواید داخلی از ۸۰ میلیون افغانی به ۱۸۰ میلیون افغانی افزایش یافت و اقتصاد کشور رونق گرفت. •

ترجمه و جمعآوری

حسیب الله نوری آفیسر ارشد نشرات/ خبرنگار

**منابع:**


۱ – افغانستان در مسیر تاریخ: غلام محمد غبار

صفحه: ۷۸۹– ۷۹۲

تاریخ نشر: ۱۳۹۱

https://archive.org/stream/Afghanistan_in_the_course_of_history_Ghubar/Part_9of9#page/n41/mode/2up/search/%D8%A7%D9%85%D8%A7%D9%86+%D8%A7%D9%84%D9%84%D9%87+

۲ –اعلیحضرت شاه امان الله غازی/نوماند اکاډمیسین سیستانی /رحمت آریا

http://www.benawa.com/web_stuff/amanullah-khan.php#ixzz5vbnyqj1a

۳ – شاه غازی امان الله خان او د افغانستان خپلواکی/ گل محمد پښتون

http://www.benawa.com/web_stuff/amanullah-khan.php

۴ – د غازی امان الله خان اقتصادی فعالیتونه/ عابدالله یوسفزی

http://www.taand.com/archives/74256

۵ – کتاب/ افغانی

تاریخچه و البم پولهای کاغذی افغانستان/ حبیب الله رفیع معاون سرمحقق / ۱۳۹۷/ صفحه ۱۰ – ۱۸



# د افغانستان زعفران

## او په نړیوالو مارکیټونو کې یې غوره ځای

**زعفران ګران بیه کرنیز محصول دی چې د افغانستان د کرنیزو محصولاتو د صادراتو په برخه کې یې غوره ځای خپل کړی دی او په نړیوالو مارکیټونو کې د هرې ورځې په تېرېدو سره د دې بوټي لپاره غوښتنې مخ پر زیاتېدو دي.**

د زعفران د روزلو، را ټولولو او پروسیس ټولې چارې په لاس ترسره کېږي او زیاتې فزیکي قوې ته په کې اړتیا نشته، کرکیله یې کمې اوبه غواړي او نږدې په هر ډول سیمه کې یې د زرغونېدو امکان شته. دا بوټی خوراکي توکو ته خوند او رنګ ورکوي، د انسان د بدن غوړي له منځه وړي او زیات شمېر نورې روغتیایي ګټې هم له ځان سره لري.

د زعفرانو دا او دې ته ورته نورې ګټې د دې لامل شوي دي چې اقتصادي ارزښت یې لوړ شي او د دې بوټي لپاره غوښتنې د هرې ورځې په تېرېدو سره زیاتې شي.

زعفران په افغانستان کې د لومړي ځل لپاره په هرات ولایت کې وکرل شول او ښه پایله یې ورکړه چې اوس یې د هېواد په ډېری ولایتونو کې کرکیله کېږي او بزګران یې له ګټې خوښ دي.

په روان زېږدیز کال کې یو شرکت چې د زعفرانو د کرکیلې او صادراتو چارې پر مخ وړي په نړیواله کچه د نرمو او ښې ذایقې لرونکو زعفرانو د تولید له کبله د الماسو د جام په نوم جایزه وګټله او د افغانستان زعفران یو ځل بیا د ټولې نړۍ په کچه لومړۍ درجه اعلان شول.

له دې وړاندې هم د افغانستان زعفرانو په نړیواله کچه څو ځله لومړی مقام خپل کړی دی. د زعفران کارانو د ټولنې د مسئولینو په خبره د افغانستان زعفران په بلجیم کې د ذایقې د انستیتیوت (ITQi) له ارزونو وروسته په ۲۰۱۹ زېږدیز کال کې د کیفیت له پلوه د ټولې نړۍ په کچه لومړۍ درجه اعلان شوي وو او د نړۍ په زعفرانو کېښې لومړی مقام را خپل کړی ؤ.

»

د کرنې اوبولګونې او مالدارۍ وزارت معلومات ښيي چې په ټوله نړۍ کې ۴۳۰ ټنه زعفران توليدېږي چې له دې ډلې ۴.۶ سلنه يې د افغانستان زعفران جوړوي.

افغانستان له ايران او هند وروسته د زعفرانو لوی توليدوونکی هېواد دی چې د دې هېواد ۹۰ سلنه زعفران بهرنيو هېوادونو ته صادرېږي او په کور دننه هم دا بوټی ښه مارکيټ لري. د يادونې وړ ده چې د افغانستان زعفران عربي هېوادونو، امريکا، چين او هند هم ته صادرېږي.

له بلې خواکه څه هم په تېرو څو کلونو کې د افغانستان يو کيلو ګرام زعفران په کورنيو بازارونو کې کابو سل زره افغانۍ او له هېواده بهر په نړدې ۱۵ سوه امريکايي ډالرو پلورل کېدل، خو په روان کال کې د کرونا ويروس د خپرېدو له کبله د دې بوټي لپاره تقاضا نسبتاً کمه شوې ده او د پخوا په پرتله يې په بيو او صادراتو کې هم کموالی راغلی دی.

د دې بوټي کرکيلې زيات شمېر ښځينه او نارينه هېوادوالو ته په کور دننه په مستقيم او غير مستقيم ډول د دندو زمينه برابره کړې ده او د کورنيو د اقتصادي ودې لامل شوې ده.

د افغانستان زعفران له دې وړاندې د نورو هېوادونو په ځانګړي ډول د ګاونډيو هېوادونو په نومونو بهرنيو مارکيټونو ته وړاندې کېدل او له دې لارې د افغان بزګرانو او سوداګرو زياته برخه ګټه نورو هېوادونو تر لاسه کوله.

له نيکه‌مرغه دا مهال د افغانستان زياته کچه زعفران د همدغه هېواد په اصلي نوم بهرنيو هېوادونو ته صادرېږي او په بهر کې يې د افغانستان د کرنيزو محصولاتو د غوره کيفيت په برخه کې لوی نوم ګټلی دی او ګټه يې هم په مستقيم ډول افغانستان ته راځي.

بهرنيو هېوادونو ته د نورو هېوادونو په نوم د کرنيزو محصولاتو د صادراتو مخنيوی له هغه مهاله راپيل شو چې افغانستان د خپلو کرنيزو محصولاتو د صادراتو لپاره خپلې جغرافيايي نښې د سوداګرۍ په نړيواله اداره کې ثبت کړې.

جغرافيايي نښې د صادراتي توکو هغه نښې دي چې د دغو توکو د توليد له ځانګړو خصوصياتو سره د يوې سيمې د صادراتي محصول ټولې ځانګړنې پکې ثبتېږي او نور هېوادونه نه شي کولای د بل هېواد توکي په خپل نوم جعل کړي.

که څه هم د جغرافيايي نښو په ثبت سره د بهرنيو هېوادونو په نومونو نورو هېوادونو ته د زعفرانو په څېر د افغانستان د کرنيزو او نورو توليدي محصولاتو مخنيوی شوی دی، خو دا چاره لا ډېر کار ته اړتيا لري او تمه ده چې په دغو برخو کې به لازمو پرمختګونو ته لاره هواره کړي،ترڅو هېڅ کوم بهرنی هېواد د زعفرانو په څېر د افغانستان کرنيز او توليدي محصول نورو بهرنيو هېوادونو ته په خپل نوم صادر نه کړای شي.

بايد وويل شي چې د زعفرانو په ګډون د افغانستان کرنيز توکي په نړيوالو مارکيټونو کې غوره نوم لري او که په دې برخه کې پانګې‌اچونې زياتې شي، نو پر مټ به يې په کورنيو عوايدو کې د ليدنې وړ زياتوالی رامنځته شي او زموږ هېواد به د اقتصادي پرمختګ لوړو څوکو ته ورسوي.

حسيب الله نوري


سرچينې:

۱ - د افغانستان زعفران د اتم ځل لپاره د ښه کيفيت له اړخه لومړي مقام کې راغلي

https://www.pashtovoa.com/a/afghan-saffron-get-n-the-first-/5214857.html

۲ - افزايش حاصلات زعفران ولايت هرات افغانستان/ دبی-العربيه.نت فارسی

https://farsi.alarabiya.net/fa

۳ - طرح کشت بديل کوکنار/ صدای امريکا

https://www.darivoa.com/a/narcotic-alternating-poppy-cultivation-plan-sarepol/5392445.html



# افغانستان؛ نیازمند کمک های مالی بانک جهانی

ویروس همه گیر کرونا ( کووید ۱۹) در کنار دیگر معضلات، اثرات منفی اقتصادی را روی زندگی خانواده ها و حتی اقتصاد کشورها بجا گذاشت و مدیریت اقتصاد خانواده ها را مختل نمود. حتی میتوان گفت که شرایط زندگی میلیون‌ها خانواده افغان از این ناحیه شدیداً آسیب‌پذیر شد.

با درنظرداشت اثرات منفی ویروس کرونا روی اقتصاد خانواده ها و اقتصاد کشور، قرار است که بانک جهانی به هدف مبارزه با آن مبلغ ۳۸۰ میلیون دالر امریکایی به افغانستان کمک نماید.

کمک یادشده در راستای حمایت از زنجیره‌های حیاتی عرضه کنندهٔ مواد غذایی، و فراهم کردن حمایت‌های اضطراری برای دهاقین در این کشور، به مصرف خواهد رسید و همچنان بودجه برنامهٔ "دستر خوان ملی" دولت افغانستان نیز از این پول تأمین خواهد شد.

گزارش بانک جهانی حاکی از آن است که با این کمک ها حدود ۲.۹ میلیون خانواده افغان در سراسر کشور تحت پوشش قرار خواهد گرفت. از جمله کمک یاد شده مبلغ ۱۲۵ میلیون دالر امریکایی آنرا صندوق بازسازی افغانستان و ۱۵۵ میلیون دالر امریکایی دیگر آن را ادارهٔ انکشاف بین‌المللی پرداخت خواهد کرد.

پروژهٔ کمک برای خانواده‌ها و جوامع افغان متأثر از کووید۱۹ متمم یک پروژهٔ موازی دیگر نیز است که زیر چتر برنامهٔ میثاق شهروندی افغانستان عملی خواهد شد.

انتظار میرود که هر دو پروژه فوق الذکر ( دسترخوان ملی دولت افغانستان و برنامهٔ میثاق شهروندی) با هم، ۹۰ در صد خانواده های نیازمند و بی بضاعت را در سراسر این کشور تحت پوشش قرار دهد.

پروژه متذکره حدود ۴.۱ میلیون خانوادهٔ افغان را که میزان درآمد روزانهٔ شان ۲ دالر امریکایی یا کمتر از آن است، تحت پوشش قرار خواهد داد.

بستهٔ دوم این کمک‌ها به افغانستان بالغ به ۱۰۰ میلیون دالر امریکایی می شود که برای کمک اضطراری به زراعت و تأمین غذایی برای

روستانشینان این کشور در نظر گرفته شده است.

قابل یادآوریست که بعد از سال ۱۳۸۰ کمک های مالی جامعه جهانی در پروسه بازسازی و نوسازی در سایر بخش های اقتصادی و دیگر بخش های کشور آغاز گردید.

بانک جهانی ( World Bank ) که در جهت کاهش و ازبین بردن فقر و غربت در سایر کشور ها کار و فعالیت می نماید، طی تقریباً دو دهۀ گذشته الی اکنون افغانستان را در جهت نیل به رشد اقتصادی در سایر عرصه ها و سکتورهای اقتصادی کمک و یاری رسانیده است.

بانک جهانی، افغانستان را در عرصه های چون حفظ و تداوم روند اصلاحات در بخش های اقتصادی و مالی و حمایت از دولت افغانستان جهت مدیریت خطرات، حمایت از تلاش های دولت افغانستان در عرصه توسعه، بهبودکیفیت و گسترش خدمات صحی، ارتقای سکتور تعلیمات حرفوی و مسلکی، کمک مالی تقویتی برای برنامه متقاعدین و مساعدت با خانواده های بی بضاعت، کمک مالی جهت تقویت رشد اقتصادی و ثبات مالی افغانستان و غیره موارد حمایت مالی کرده است.

هرچند افغانستان طی چند سال گذشته در قسمت افزایش عواید داخلی پیشرفت هایی داشته است، اما هنوز هم به ادامه کمک های مالی جامعه جهانی نیاز دارد.

بحران جهانی ناشی از شیوع ویروس کرونا ( کووید ۱۹) تأثیرات منفی و ناگواری بر بخش های متعدد از خانواده ها گرفته تا متشبثین، تجار و حتی به دولت افغانستان گذاشته است.

انسداد مرزها، توقف خدمات ترانسپورتی زمینی و هوایی و تجارتی عواملی اند که سبب کاهش عواید حکومت افغانستان شده است.

شیوع ویروس کرونا که در اواخر سال ۲۰۱۹ میلادی از چین آغاز شد، محدودیت های تجاری میان کشورها، مسدود شدن راه های تجارتی و ترانزیتی زمینی و هوایی و حتی توقف فعالیت های اقتصادی در جهان را به همراه داشت. اقتصاد نوپای کشور ما نیز از ناحیه انسداد راه ها، مشکلات تجارتی میان افغانستان و کشورهای همسایه، مسدود بودن پرواز های خارجی، نبود عواید ترانزیت هوایی، افزایش قیمت ادویه و وسایل بهداشتی و غیره موارد متأثر گردیده و حتی باعث کاهش عواید ملی کشور گردید.

شیوع ویروس کرونا و کمبود و حتی نبود وسایل صحی و بهداشتی در کشور، فرصتی بود و است تا متشبثین خُرد، متوسط و بزرگ با سرمایه دست داشته در تقویه و توسعه فعالیت های اقتصادی و بهداشتی و در کُل فعالیت های اقتصادی که منجر به بهبود اقتصاد کشور میشود، بپردازند و با تولیدات داخلی از یکطرف به نیاز های داخلی رسیده گی و از سوی دیگر اقتصاد کشور را حمایه نمایند.

برای اینکه اقتصاد کشور بنابر شیوع ویروس کرونا و قرنطین دوامدار از این بیشتر متأثر نگردد، نیاز است تا تولید کنندگان داخلی از فرصت بوجود آمده استفاده مؤثر کرده و در توسعه فعالیت های اقتصادی نقش ایفاء کنند و با افزایش سرمایه گذاری در بخش تولیدات داخلی در تحرک چرخه های اقتصادی تلاش نمایند.

افزایش سرمایه گذاری در بخش های تولیدی در کشور، نه تنها اینکه اشتغالزایی و فرصت های کار و بار را فراهم می سازد، بلکه کشور را از وضعیت مصرفی بیرون نموده و آهسته آهسته به سوی خود کفایی اقتصادی و رفاه همگانی سوق می دهد.

امید پروسه صلح بین الافغانی که در جریان است نتیجه دهد تا همه تجار و متشبثین با فکر راحت مصدر خدمت به وطن گردند و چرخه های اقتصاد کشور را در حرکت آورند تا افغانستان از وابستگی به کمک های خارجی رهایی یابد و روزی باشد که عواید کشور از سایر منابع عایداتی کشور حصول و تکافوی تمام هزینه های کشور را نماید.

یما عفیف

مدیر نشرات آمریت عمومی دفتر ریاست

منابع و مآخذ:

https://www.darivoa.com/a/world-bank-380-millions-dollar-help-for-corona-virus-pandemic-in-Afghanistan

تاریخ: ۱۵ اسد ۱۳۹۹

www.worldbank.org.af

azia@worldbank.gov.af

http://pe.ria.ru\afghanistan

Radio azadi



# اوبه؛ افغانستان د برېښنا د تولید په برخه کې ځان بسیاینې ته رسوي

**که څه هم په افغانستان کې له اوبو د برېښنا تولید وړتیا شته، خو په وړاندې یې ننګونې هم شتون لري دا چې افغانستان له اوبو د څومره برېښنا د تولید وړتیا لري او په وړاندې یې ننګونې څه دي په دې مقاله کې پرې بحث شوی.**

د افغانستان اوبه د دې هېواد د ملي اقتصاد د پرمختیا لپاره ځانګړې ارزښت لري چې کولای شي دا هېواد د برېښنا د تولید په برخه کې ځان بسیاینې ته ورسوي او په یاده برخه کې یې له وارداتي په صادراتي هېواد هم بدلولای شي.

که څه هم له اوبو څخه د برېښنا د تولید د وړتیاوو په اړه تر دې دمه کومه کره څېړنه نه ده تر سره شوې، خو بیا هم په ټولیز ډول د انرژۍ کارپوهان په دې ټکي سره یوه خوله دي، چې په افغانستان کې له اوبو څخه نږدې ۲۳ زره میګاواټه برېښنا د تولید وړتیاوې شته.

که په هېواد کې د یادې کچې برېښنا د تولید لپاره زمینه برابره شي، افغانستان به په سیمه د برېښنا د تولید په مرکز بدل شي او خپلو ګاونډیو هېوادونو ته به هم د برېښنا د لېږد وړتیا ولري چې د دې چارې عملي کېدل د هېواد په کورنیو عوایدو کې بې مخینې پرمختګونه رامنځته کولای شي.

افغانستان دا مهال په کلني ډول د نږدې ۳ سوه میلیون امریکایي ډالرو په ارزښت

»

برېښنا له ګاونډیو هېوادونو پېري، خو که په کور د ننه د برېښنا د تولید سرچینې رامنځته شي، نه یوازې دا چې له افغانستان څخه به یاده کچه اسعار بهرنیو هېوادونو ته لاړ نه شي، بلکې دا اسعار به د کورنیو عوایدو په بیلانس کې ور زیات او د کورني اقتصاد د ودې لامل به وګرځي.

بلخوا، معلومات ښیي چې که څه هم افغانستان په ټولیز ډول ۷۵۰۰ میګاواټ برېښنا ته اړتیا لري، خو له دې کچې یوازې ۱۴۰۰ میګاواټه برېښنا تأمین شوې ده. له یادې کچې یوازې ۲۰ سلنه یې په کور دننه او پاتې ۸۰ سلنه یې له ګاونډیو هېوادونو واردېږي.

افغانستان دا مهال له تاجکستان، ازبکستان، ترکمنستان او ایران هېواد څخه برېښنا واردوي چې له دې لارې یادو هېوادونو ته په کلني ډول یوه زیاته کچه اسعار ورکول کېږي او یاد اسعار په مستقیم ډول د افغانستان له کورني بیلانس وځي.

د دې لپاره چې د یادو اسعارو له وتلو څخه مخنیوی وشي په کار ده چې دولت د برېښنا بندونو د جوړولو په برخه کې پانګه‌اچونه وکړي. که څه هم افغان حکومت په دې برخه کې په وروستیو څو کلونو کې یو شمېر ګامونه هم پورته کړي دي او د برېښنا یو شمېر بندونه یې جوړ کړي او په یو شمېر نورو یې کار روان دی، خو د دې چارې په وړاندې یو شمېر ننګونې هم شتون لري چې یاده چاره یې له ستونزو سره مخ کړې ده او نه پرېږدي چې په دې برخه کې پرمختګ رامنځته شي.

که څه هم په دې برخه کې زیات شمېر ننګونې شته، خو تر ټولو لویې او بنسټیزې ننګونې یې د امنیت او مالي سرچینو نشتوالی ښودل شوی دی.

په هېواد کې شاوخوا ۴۰ کلنې جګړې د دې لامل شوې دي چې د نورو بنسټیزو پروژو تر څنګ د برېښنا د بندونو پروژې هم له امنیتي ستونزو سره مخ شي او د دې لامل شي چې پانګه‌وال په دې برخه کې پانګې اچونې ته زړه ښه نه کړي. خو که په دې برخه کې شته ستونزې حل او ورته د پای ټکی کېښودل شي لرې نه ده چې افغانستان به د سیمې په کچه د برېښنا د تولید په مرکز بدل شي.

**مالي سرچینې او پانګه‌اچونه**

لکه څرنګه چې پورته یادونه وشوه؛ افغانستان له اوبو څخه د برېښنا د تولید ډېره وړتیا لري او که د دې هېواد په روانو اوبو د برېښنا بندونو رامنځته شي دا هېواد به په سیمه د برېښنا د تولید په مرکز بدل کړي. خو د دې بندونو جوړېدنه مالي ملاتړ او سرچینو ته اړتیا لري، چې دا د افغان حکومت او حکومتي بودیجې په وس کې نشته.

د بېلګې په ډول په ۱۳۹۴ کال کې د ستراتیژیکو اړیکو د مرکز یو راپور ښیي چې د هېواد د ۱۴ بندونو جوړونه ۱۷.۷ میلیارد امریکایي ډالرو ته اړتیا لري چې دا یوه زیاته کچه پیسې دي او افغانستان نه شي کولای چې د بهرنیو هېوادونو له مرستو پرته دا پیټی پورته کړي، نو د دې لپاره چې مالي سرچینې پیدا او بهرني پانګه‌وال په دې برخه کې پانګه اچونه وکړي لازمه ده چې افغان حکومت له خپلو ګاونډیو هېوادونو سره د اوبو په برخه کې تړونونه وکړي او پدې برخه کې شته ستونزو ته د پای ټکی کېږدي.

حسیب الله نوري

سرچینې:

۱ - د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز http://www.csrskabul.com

۲ - په افغانستان کې برېښنا تولیدونکي بندونه https://www.dw.com/ps

# تلاش در جهت بهبود ساختاری نظام تادیات

*زیربناهای تادیاتی جهان با میکانیزه سازی پرداخت های کوچک بشکل سریع و عصری سازی سیستم های تسویۀ آنی (RTGS) در حال تجربه نمودن تغییرات بزرگ می‌باشند. در عین حال، ابتکار و نوآوری در محیط تادیاتی بیرون مرزی تغییراتی مثبتی را به بار آورده است. رهبری مجلۀ بانکرز با همکاری SWIFT تحقیقی را در زمینۀ اینکه سکتور مالی برای بهبود ساختاری نظام تادیات چگونه با هم کار میکنند، انجام داده که مختصر آن را درینجا نشر می نمائیم.*

سه موضوع مهم هر یک نوآوری در تکنالوژی، رقابت گسترده بین سکتور مالی و مصئونیت سیستم های تادیاتی، در سطح جهان باعث تغییرات بنیادی در زیربناهای تادیاتی شده که در عین حال دارای فرصت ها و چالش ها، هم برای بانکها و هم مشتریان آنها می باشد.

خانم ویکتوریا کلیلند، رئیس اجرایی بخش بانکداری، تادیات و نوآوری در بانک مرکزی بریتانیا می گوید "شرایط فعلی موقع خوبی برای گسترش فعالیت‌های تادیاتی می باشد". بانک مرکزی بریتانیا سیستم تسویۀ آنی (RTGS) خویش را نوسازی می کند تا با معیارهای تکنالوژی روز سازگار بوده و نیازمندی های مشتریان را رفع نماید.

باید گفت که در کنار بانک مرکزی بریتانیا، پروژه‌های زیادی درین راستا در کشورهای چون استرالیا، امریکا، کانادا و اتحادیۀ اروپا تکمیل گردیده یا زیر کار می‌باشد که درین میان بانک مرکزی اروپا نسبت به دیگران پیشی گرفته است.

خانم کلیلند می گوید، که بانک بریتانیا سیستم انعطاف پذیری را ایجاد کرده و در جستجوی راه‌های است که بتواند با ابتکار و نوآوری تغییرات مثبتی را ایجاد کند. این ابتکار و نوآوری شامل معرفی نمودن سیستم تسویۀ آنی به نهادهای غیر بانکی جهت تشویق رقابت و نوآوری، افزایش فعالیت میان نهادها با استفاده از معیار پیام گذاری ISO ۲۰۰۲۲ و بهبود کارکرد کاربر از طریق طرح ریزی اپلیکیشن ها، می‌باشد.

در کنار تغییرات مثبت و مؤثری که در محیط تادیات کلان در بریتانیا واقع شده، ادارۀ تادیات کوچک بنام Pay.UK از

»

یک دهه به اینسو روی معرفی ابزارهای تادیات سریع (Faster Payments) کار می کند. پاول هارلوک، رئیس عامل Pay.UK می گوید که ایجاد یک لایۀ جدید تصفیه و تسویه برای صنعت تادیات کوچک که بنام "طرح جدید تادیات" شناخته می‌شود، به مشترکین فرصت ایجاد محصولات جدید و عرضۀ خدمات مالی را فراهم می کند.

همچو برنامه‌های زیربنائی به اقتصاد دیجیتلی فرصت‌های بیشتری را مهیا می‌سازد و در عین حال مُدل‌های جدید کسب و کار مبتنی بر همکاری های متقابل و مشترک به سرعت در حال تکامل می‌باشد. مارکو هگس رئیس بخش تادیات، سیالیت جهانی و مدیریت نقدی در بانک HSBC می گوید که توسعۀ ابزارهای تادیاتی در زمینۀ دیجیتلی ساختن تادیات و حصولی‌ها در سرتاسر جهان کمک می کند. تنظیم کنندگان امور مالی این امر را به عنوان منفعت قابل توجه برای اقتصاد کشور های شان تلقی میکنند. آقای مارکو می گوید "مشتریان ما در حال حاضر خواستار سیستم های تادیاتی مصئون سریع و مؤثر اند که روند میکانیزه سازی سیستم های تادیاتی میتواند به آنها کمک نماید".

روند عصری سازی سیستم های تادیاتی بیرون مرزی نیز ادامه دارد. بطور مثال، آقای مارکو خاطر نشان می‌سازد که نصب جی پی آی سویفت چگونه توانسته است به آنها کمک کند تا معاملات بیرون مرزی خود را تحت نظارت داشته و در رفع هر نوع مشکل و ایجاد شفافیت در معاملات اقدام به موقع نمایند. او می گوید "بیشتر از ۹۷ درصد پرداخت های فرامرزی بانک HSBC از طریق جی پی آی سویفت راه اندازی گردیده است. او همچنان خاطر نشان می سازد که این سیستم انقلاب را در روند تادیات ما ایجاد کرده است.

## کار مشترک و روند رو به پیش

به گفتۀ اندریو سمیت، رئیس بخش تکنالوژی ClearBank و RTGS بین المللی، طرح مشارکت‌های جدید از جمله راه‌های است که برای رسیدگی به برخی چالش‌های موجود در محیط تادیاتی سریعاً در حال تکامل، لازم می‌باشد. وی می‌افزاید "در مورد طرح جدید، فیدبک عامه و نظریات حاصله از مشتریان بحث‌های زیاد جریان دارد، اما ما نیاز داریم تا این طرح را به ساحۀ عملی ببریم. بانک‌ها باید تخصصی شوند و با تشریک معلومات تخصصی به یکدیگر کمک کنند".

آقای سمیت به شراکت ClearBank با Tide and Nationwide for Business به عنوان یک تلاش حقیقی جهت اثر گذاری در بازار و کسب دست آوردهای قابل لمس برای مشتریان، اشاره می کند.

آقای سیمون ایکوت، رئیس بخش نوآوری تادیات و توسعۀ کسب و کار در بانک NatWest با آقای سمیت موافق بوده و می‌افزاید که بانک‌ها باید بپذیرند که نمی‌توانند برای تمام مردم همه کاره باشند. آنها نیاز به تکنالوژی و شرکت های عرضه کنندۀ تکنالوژی دارند تا با استفاده از آخرین نوآوری های تکنالوژی خدمات مؤثر تادیاتی را برای مشتریان عرضه نمایند.

تشریک مساعی نه تنها در امر توسعۀ محصولات می‌تواند مؤثر باشد، بلکه در زمینۀ رفع چالش‌های که صنعت با آن مواجه است، نیز کمک خواهد کرد. بانک بریتانیا و Pay.UK ازین رهگذر تا »

هنوز تجارب خوبی را بدست آورده اند.

### معیارها و قابلیت کار مشترک

ویکش پتیل، رئیس بخش بریتانیا و ایرلند سویفت می گوید که تغییر زیربناهای تادیاتی به ISO 20022 در سطح جهان برای آیندۀ تادیات یک امر ضروری می‌باشد. این معیار عناصر سازندۀ را برای غنامندی و تنظیم مجموعه‌های اطلاعاتی و قابلیت کار مشترک در خود دارد. موصوف می‌افزاید "توانائی و قابلیت انتقال اطلاعات در بیرون مرزها و در داخل به شیوۀ که مورد قناعت مردم قرار گیرد و بتواند سهولت های لازمۀ تادیاتی مصئون و سریع را فراهم کند، بسیار مهم است".

به گفتۀ آقای هگس، هرگاه هر طرح تادیاتی که در سطح جهان معرفی می‌شود چنین باشد، پس برای بانک های جهان چون HSBC بسیار سودمند واقع می‌شود. وی می‌افزاید "روند معیاری سازی نه تنها به ما منحیث بانکرها کمک می کند بلکه کمپنی‌های بزرگ تکنالوژی، تمام فراهم کنندگان تادیات و مشتریان میتوانند از آن مستفید شوند.

### مصئون، انعطاف پذیر و ۲۴ ساعته

شاید در طول یک نسل فقط یک بار فرصت میسر شود تا ما عامل تغییر بنیادی در یک سیستم شویم. این بار فرصت برای تغییر در نظام تادیاتی است تا با استفاده از تکنالوژی و فن آوری های خلاق بتوانیم فاصله ها را کمتر، تادیات را سریع و مصارف را کاهش دهیم. باید خاطر نشان ساخت که مصئونیت معاملات و انعطاف پذیری سیستم ها نباید قربانی سرعت و تکنالوژی شود.

خانم کلیلند و آقای هارلوک به اتفاق هم روی انعطاف پذیری سیستم ها تأکید دارند و میگویند که ابزارهای تادیاتی طوری باید طراحی شوند که نظر به شرایط و مقتضیات زمان قابلیت تغییر را بگونه سهل داشته باشند.

به همین ترتیب، آقای پتیل تأکید می‌ورزد که محصولات و خدمات جدید باید به اساس برنامه‌های انعطاف پذیر، مصئون و امن راه اندازی شوند.

### نکاتی برای آینده

آقای هگس و خانم کلیلند با اتفاق نظر روی ابتکارات و نوآوری‌های مبتنی بر تادیات از طریق سیستم‌های آنی بخصوص در چین و هند، اشاره کرده میگویند که شرایط فعلی بیشتر از هر وقتی دیگر برای رشد و توسعۀ سیستم های تادیاتی مساعد است.

آقای هارلوک می‌گوید، در بریتانیا بانکداری سهل و وسایل ارتباطی برنامه ریزی اپلیکیشن (APIs) فرصت های زیادی را فراهم کرده است. به عنوان مثال، گزینۀ "درخواست پرداخت" مربوط Pay.UK برای راه اندازی تجارت در سال ۲۰۲۰ برنامه ریزی شده که طرح ابتدائی آن مورد استقبال گرم مؤسسات خیریه، شرکت‌های فراهم کنندۀ سهولیات تادیاتی و سایر کمپنی‌های که می‌خواهند به مشتریان خود عرضۀ خدمات مطلوب نمایند، قرار گرفت.

آنها معتقد اند که در حال حاضر مواردی زیادی است که بتوانیم جهان را از حالت معاملات نقدی بطرف دیجیتل سازی سوق دهیم.

ترجمه: مسعود ودان

منبع: مجلۀ بانکر، جنوری ۲۰۲۰

# اقتصادي خبرونه

**امارات افغانستان کې د ۳ زره میګاواټه لمرې برېښنا د تولید لپاره پانګونه کوي**

افغان حکومت او یوه اماراتي شرکت په افغانستان کې د درې زره میګاواټه لمري برېښنا د تولید لپاره خپل منځي هوکړه لاسلیک کړه.

د افغانستان برېښنا شرکت وايي، دا هوکړه لیک د عربي متحده اماراتو د شرکت او د ولسمشرۍ د چارو اداري د پانګونې اسان چارې څانګې مشر عطاالله نصیب او د برېښنا شرکت مشر احمد داود نورزي ترمنځ لاسلیک شو.

د افغانستان برېښنا شرکت ویاند وحیدالله توحیدي بي بي سي ته ویلي، ډېر ژر به د دې پروژې تخنیکي او لومړنۍ ارزونه پیل شي او بیا به د شرایطو او اړتیاوو څرګندېدلو سره د پانګونې اندازه وټاکل شي. د هغه په خبره، د دې پروژې لپاره پانګونه او وخت او د لمري برېښنا تولید ځای ته په پام سره ټوپیر لري.

نوموړي افغانستان کې د انرژۍ‌ځان بسیاینې لپاره د دې پروژې پلي کېدل مهم ګام بللی دی. افغانستان دا مهال د کورونو روښانولو او اقتصادي خرخ خوځولو لپاره دوه زره میګاواټ برېښنا ته اړتیا لري.

د افغانستان برېښنا شرکت په خبره، دغه هېواد د دې اړتیا لرې کولو لپاره دا مهال له ایران، ازبکستان، ترکمنستان او تاجکستان نږدې دوه زره میګاواټ برېښنا تولیدوي چې له درې سوه میلیون ډالرو ډېر لګښت لري. د دې وارداتي برېښنا سربېره د افغانستان د برېښنا کلنۍ کورنۍ تولید هم د ۲۸۰ او ۳۲۰ میګاواټ ترمنځ اعلان شوی دی. دې کې څلور سلنه برېښنا د حرارتي او نوېدونکې انرژۍ او پاتې د اوبو بندونو له خوا تولیدېږي.

نږدې څلور کاله مخکې د افغانستان انرژۍ او اوبو وزارت وویل، چې دا اداره تر څلورو کلونو له نوېدونکو سرچینو، لکه اوبو، باد او لمر نږدې دوه زره میګاواټ برېښنا تولیدول او له دې لارې د انرژۍ برخه کې په ځان بسیاینه غواړي، خو د دې ژمنې وخت پوره شو، مګر د پرځاینېت لپاره یې لا ډېر واټن شته.

د دې اندازې برېښنا تولیدول نږدې شپږ میلیارد ډالرو ته اړتیا لري. په افغانستان کې د لمري برېښنا تولید کوچنۍ پروژې وارودمخه پیل شوې. د افغانستان برېښنا شرکت د ویاند د مالوماتو له مخې، اوس هم دغه هېواد کې د لمري برېښنا تولید روان دی، خو ظرفیت یا ورتیا ته په پام یې کچه خورا ډېره کمه ده.

دا مهال په کندهار، بامیان او هرات کې له ۴۰ میګاواټه ډېره لمري برېښنا تولیدېږي. د لمري برېښنا د تولید لپاره د پانګونې خبر په داسې مهال دی چې افغانستان په وارداتي برېښنا د انحصار له امله خپلو وګړو ته د انرژۍ برابرولو له مخې له ډېرو ستونزو سره مخ دی.

ناامني، برېښنا بندونو کې د اوبو کمښت، د ښارونو وده او

وروستیو کلونو کې د وربښت کموالی لامل شوي چې د برېښنا برابرول افغان حکومت ته په ننګونه بدل شي.
پر دې سربېره، د حکومت مخالف وسلوال کله کله په مختلفو ولایتونو کې د برېښنا متهو یا پایپو په زیانمنولو سره د برېښنا د پرې کېدو سبب کېږي.

**برنامۀ غذایی جهان: گرسنگی ناشی از کرونا ویروس زندگی میلیون‌ها افغان را تهدید می کند**

برنامۀ غذایی جهان اعلام کرده است که در آغاز سال ۲۰۲۰ میلادی، ۱۲میلیون شهروند افغانستان با "عدم مصونیت غذایی" مواجه بودند؛ اما شیوع کروناویروس در این کشور، میلیون‌ها افغان دیگر را نیز با خطر گرسنگی مواجه ساخته است.
دفتر برنامۀ غذایی جهانی ملل متحد در افغانستان با نشر خبرنامه ای روز شنبه اول اگست (۱۱ اسد) گفته است که در نظر دارد تا با ۱۰.۳ میلیون افغان که مصونیت غذایی ندارند، کمک کند. رابرت کسکا، معاون و سرپرست برنامۀ غذایی جهان در افغانستان گفت که آنان برای مدد رسانی به افغان های آسیب‌دیده از کووید ۱۹ به ۵۳ میلیون دالر نیاز دارند. این در حالیست که ادارۀ انکشافی ایالات متحده برای افغانستان جهت رسیدگی به ۹۵ هزار خانواده متأثر از کروناویروس، ۱۲ میلیون دالر به برنامۀ غدایی جهان کمک کرده است.
در اعلامیه برنامۀ غذایی جهان به نقل از پیتر نتیلو، رئیس اداره انکشافی ایالات متحده آمده است: " کووید ۱۹ در سراسر کشور زندگی خانواده‌های را مختل ساخته که روزمزد بودند و یا تجارت های کوچک داشتند. به ویژه کسانی که در شهرها زندگی می کنند و به دلیل قرنطین، فرصت به دست آوردن پول برای خرید غذا را ندارند".
این در حالیست که محترم محمد اشرف غنی، رئیس جمهور افغانستان در افتتاح برنامه دسترخوان ملی گفته بود که در حال حاضر ۹۰ درصد شهروندان کشور زیر خط فقر "دو دالری" قرار دارند.
شمار مبتلایان کووید ۱۹ در افغانستان به ۳۶۷۱۰ نفر و شمار جان‌باختگان به ۱۲۸۳ نفر رسیده است؛ البته این در حالیست که ظرفیت آزمایش نمونه‌های مشکوک در این کشور محدود است.

---

سرچینې:

۱- https://www.bbc.com/pashto/afghanistan-53749662

۲- صدای امریکا https://www.darivoa.com/a/more-than-12-million-afghan-people-are-facing-acute-food-insecurity/5526603.html




# په آسیا کې د بازل III تطبیق، ستونزې او ننګلارې

د کیمبیرلي لانګ(Kimberly Long) د راپور پر بنسټ د پانګې په اړه د بازل III اصول پیاوړې بانکداري تضمینوي، خو د آسیا په لړو پرمختللو بازارونو کې د دې شرایطو پوره کول نوې ننګونې رامنځته کوي.

په تیوریکي ډول د بازل III معیارونه باید تر دا مهاله په بشپړه توګه رعایت شوی وای. د دې معیارونو د پلي کولو لپاره بانکونو ته شپږ کاله وخت ورکړل شوی ؤ چې وروستۍ نېټه یې د ۲۰۱۹ زیږدیز کال د مارچ ۳۱ ټاکل شوې وه. د بازل III د اصولو پر بنسټ د یو بانك د پانګې د کفایت نسبت باید ۸ سلنه، د عمومي موجودۍ نسبت ۴.۵ سلنه او اصلي پانګه باید ۶ سلنه وي څو د پانګې کفایت په ډاګه شي. د آسیا په پرمختللو هېوادونو کې د دې اصولو پلي کول ستونزمن کار نه دی او یادو هېوادونو په دې برخه کې پیاوړی ملاتړ رامنځته کړی دی.

په پیاوړو اقتصادي هېوادونو کې د دې اصولو پلي کول مثبت ثابت شوي دي. د (Fitch) په اداره کې د مالي بنسټونو لوی رئیس، "هیکایو چانګ"وایي: "د بازل III اصول بانکونه له ناڅاپي زیانونو څخه ژغوري. په هغه صورت کې چې ټول بانکونه د فشار پر مهال غوره چمتووالی ولري، نو په دې کار سره به د بانکدارۍ سیستم لا پیاوړی او ټینګښت ومومي. له نیکه مرغه، دا چاره په دې برخه کې د پانګوالو ډاډمنتیا زیاتوي او د بانکونو ستونزې له منځه وړي."

**د بازل III په تطبیقولو کې د مرکزي بانکونو رول**

مرکزي بانکونه د څارنیزو دندو ترڅنګ چې د خپلو هېوادونو له سوداګریزو بانکونو څخه یې لري، اړ دي څو په بانکي سکتور کې د بازل III د تطبیق له څرنګوالي څخه ډاډ ترلاسه کړي.د سنګاپور د مرکزي بانك ویاند وایي چې دوی په خپل هېواد کې له بانکونو سره په ګډه او نږدې کار کوي څو دا شرایط

«

پوره کړي چې د نوموړي په وینا په نړیواله توګه د دې اصلاحاتو د رامنځته کېدو دوام په مالي نظام کې د لا زیات ثبات لامل کیږي.

نوموړی زیاتوي چې "د بازل III د نهایي شویو معیارونو موخه د خطر پر وړاندې دجدیت زیاتوالی او د بانکونو د شتمنی له خطره ډکو محاسبو د زیات توپیر راکمول دي. "دا اصلاحات باید د یو باثباته مالي نظام د لویو ګټو په برخه کې چې د دوامدارې اقتصادي ودې لامل کیږي، په پام کې ونیول شي."

په ورته وخت کې، تنظیمونکو پر بانکونو او نړولیزه توګه پر اقتصاد باندې د دې اصلاحاتو له بالقوه اغېزو څخه خبر دي. په همدې موخه د بانکونو د څارنې لپاره د بازل کمېټې (BCBS) ارزونه ترسره کړې څو دا په ډاګه کړي چې د دې اصلاحاتو په ترسره کېدو سره ټاکلې موخې ترلاسه شوې او هر ډول نامطلوبه پایلې څانګړې شوې دي."دا کمېټه منې چې د ځینو هېوادونو له لورې د دې معیارونو پوره کول یوه ننګونه ده، حال دا چې دې سیمې د لویدیځو هېوادونو په پرتله له مالي بحران وروسته چې تنظیمي بدلون ته یې لاره هواره کړه،په نړولیزه توګه ښې کړنې ترسره کړې دي.

**کوم سیستم ګټور دی؟**

په داسې حال کې چې په نړیوالې بانکدارۍ کې د بازل III ګټې په نړیواله توګه منل شوې دي، د آسیا پاسفیک سیمې د تنظیموونکو له لورې د دې معیارونو د پلي کولو طریقه توپیر لري. په ورته وخت کې، د ځینو لپاره دا طریقه د طرحه شوې طریقې په پرتله خورا ستونزمنه ښکاري.

ښاغلی چانګ زیاتوي: " د چارو تنظیموونکي په دې وروستیو کې داسټرالیا او نیوزلینډ د پانګې په لوړو شرایطو باندې کار کوي چې دا شرایط اوس تر لیکنې لاندې او د مشورې په پړاو کې دي. د اسټرالیا د احتیاطي تنظیماتو اداره (APRA) د خپلو بانکونو لپاره له شک پرته د پیاوړې پانګونې غوښتونکې ده، په داسې حال کې چې نیوزلینډ هم ورته غوښتنه لري. دا چاره ښایي په راتلونکو څو کلونو کې د اسټرالیا د لویو بانکونو لخوا د پورونو د ورکړې په شمیر کې د پام وړ زیاتیدو لامل شي."

پورته یاده شوې اداره د اسټرالیا له څلورو لویو بانکونو، د اسټرالیا د ګډو ګټو بانک (Commonwealth Bank of Australia)، وستپیک بانکي شرکت (Westpac Banking Corporation)، د اسټرالیا او نیوزلینډ بانکي ګروپ (Australia and New Zealand Banking Group) او د اسټرالیا ملی بانک (National Australia Bank) څخه غوښتنه کوي څو د ۲۰۲۰ زیږدیز کال د جنورۍ تر لومړۍ نېټې پورې د عادیونډود اصلي پانګې ۱۰.۵ سلنه نسبت پوره کړي. د آسیا پاسفیک سیمې د بانکدارۍ او پانګې بازار سکتور مشر او په EY اداره کې د مالي خدمتونو وړاندې کوونکی، ښاغلی انډریو ګیلډر وایي: "په سنګاپور کې د بانکي چارو تنظیموونکي د بازل III اصولو د پلي کولو په اړه محافظه کارانه چلند کوي او په دې هېواد کې مېشت بانکونه د ۲۰۱۴ زیږدیز کال راهیسې د خپلو پانګو نسبتونه لوړوي."په حقیقت کې دا شرایط په ځینو هېوادونو کې د فشار د کمېدو لامل شوي دي. همدا ډول ښاغلي چانګ زیاتوي چې فیلیپین د بانکي چارو تنظیموونکي دبازل III معیارونو د عادیونډو د اصلي پانګې په شرایطو کې یو څه اسانتیاوې رامنځته کولای شي. په ورته وخت کې د دې هېواد د بانکونو د پانګې نسبت د بازل III معیارونو له پلي کولو وروسته د آسیا پاسفیک سیمې د نورو هېوادونو په پرتله په لوړ حد کې راغلی دی.

**د معیارونو مطابق د پورونو ورکړه**

ځيني بانکونه د خپلو مالي وجوهو د زیاتولو په لټه کي دي څو د بازل III د پانګې شرایط پوره کړي، خو له ننګونو ډک بازارونه پر پور اخیستونکو د فشار لامل ګرځي. د S & P Global Ratings لوی رئیس، ښاغلي "ګاوین ګونینګ" په وینا په دې وروستیو میاشتو کې مرکزي بانکونو په ټوله نړۍ کې د ټکټاني د ټیټ نرخ ملاتړ کړی دی. د ټکټاني د نرخونو ټیټوالی د خالصو ګټو د کچې او ګټورتیا د دوامداره ساتلو په وړاندې ننګونې زیاتې کړې چې په پایله کې یې د داخلي پانګې زیاتوالی ستونزمن شوی دی. اټکل کیږي چې ۲۰۲۰ زیږدیز کال به د بانکونو لپاره تر ټولو ستونزمن کال وي.

په هغه صورت کې چې دا په داخل کې ترسره کیدای نه شي، نو د معیارونو مطابق د پورونو ورکړه د تیرو څو کلونو راهیسې د خوښې وړ میتود دی.پانګوالو ته د خدمتونو وړاندې کوونکې کمپنۍ (Moody) لومړۍ مرستیالې، آغلې"کرسچن کو"زیاتوي چې د پورونو د ورکړې روان بهیر د څو عواملو له امله یو غوره میتود دی. "نوموړې زیاتوي چې ډېری بانکونه له دې امله ډېر پورونه ورکوي څو د پانګې ټاکلي حد ته ورسیږي. د نوموړې په وینا د پورونو له لارې د مالي وجوهو زیاتول یوه بریالۍ حل لاره نه ده. دا بانکونه د لنډ مهال پورونو پر ځای د اوږمهاله پورونه ورکوي. دوی کولای شي دواړه ډوله پورونه ورکړي څو د پانګوالو د بازار بېلابېلې برخې خپلې کړي او په غوره توګه وکړای شي چې د شتمنیو او پوراینو مقدارونه پرتله کړي."

**په منګولیا کې کړنې او تحرکات**

د غوړیدو په حال کې بازارونه د بازل د معیارونو په شتون کې له ستونزو سره مخ وه او حتی ځیني بازارونه د بازل III معیارونو په پلي کولو کې پاتې راغلي دي. د آغلې "کو" په وینا د آسیا د پرمختللو هېوادونو د پرمختللو بانکي سیستمونو په پرتله د منګولیا او ویتنام تجربه خورا نوې او متفاوته ده چې په دې دواړو بازارونو کې بانکي سیستمونه پرمختللي نه دي او په دې توګه د دې هېوادونو د بانکي سیستمونو چمتو کول ډېر وخت ته اړتیا لري. د بازل I معیارونو په پرتله په بازل II معیارونو کې د پانګې شرایط هم زیاتیږي او د دواړو هېوادونو بانکونو له تیرو دریو کلونو څخه تر پنځو کلونو پورې د پورونو چټکه زیاتوالی تجربه کړی دی، نو دوی باید له خورا دقت څخه کار واخلي څو وکولای شي دا شرایط پوره کړي.

د منګولیا بانک (BoM) هڅه کړې څو د دې بانک مقرراتله بازل II معیارونو سره سم وي او د بازل III ځیني معیارونه هم پوره کړي چې د دې معیارونو د پوره کولو لپاره د ۲۰۲۰ کال تر پایه پورې یې ۱۸ میاشتنی موده هم پوره کیږي، حال دا چې دا هېواد لا هم نړیوالې مرستې ته اړتیا لري. دا هېواد اوس هم د پیسو د نړیوال صندوق د مرستې تر رژیم لاندې دی چې د ۲۰۱۷ زیږدیز کال په می میاشت کې د پیسو نړیوال صندوق دې هېواد ته دپرمختګ له کلنۍ ارزونې وروسته د ۴۳۴.۳ میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت ددرې کلن اضافي پور ورکړه اعلان کړه. د ښاغلي چانګ په وینا د پیسو نړیوال صندوق د دې اوږدې مودې په ترځ کې د منګولیا د بانکدارۍ د سیستم پر ثبات باندې ټینګار کوي. په ورته وخت کې د منګولیا بانک هم د دې بانک د پانګې په جوړونه او د شتمنۍ په کیفیت باندې ټینګار کوي. همدا ډول، د دې هېواد د بانکدارۍ سیستم د بازل I معیارونو وروسته اوسپه تدریجي ډول د بازل II او بازل III معیارونو ترکیب تر نیمایي پورې بشپړ کړی دی.

د پیسو د نړیوال صندوق له لورې د ۲۰۱۹ زیږدیز کال په سپټمبر کې د

»

منګولیا د بانکدارۍ په ارزونه کې څرګنده کړې ده چې: " د بازل II او بازل III معیارونو د پلي کولو، د شتمنۍ د ډلبندۍ د ښه والي او د څارنې د ظرفیت لوړولو لپاره باید هڅې دوامداره وساتل شي."همدا ډول، دا یادونه شوې ده چې د پانګې په ترکیب کې د نیمګړتیاوو له امله د دې هېواد په اقتصادي وده کې هر ډول کموالی او کمزورتیا د مالي بې ثباتۍ لامل کیږي.

**د بازل III په تطبیق کې د ویتنام وروسته پاتې کېدل**

دا هېواد لا هم د بازل II معیارونو د پلي کولو په درشل کې دی. په (Fitch) اداره کې د سویلي او سویل ختیځې آسیا د بانکونو لوی رئیس، ښاغلي وي سیانګ این جیوایي چې د بانکدارۍ سیستم لپاره دا بدلون له دې امله ستونزمن دی چې لا هم ددې سیستم په تطبیق کې وروسته پاتې دی، کمه ګټورتیا او د راپور ورکولو لاندې صعب الحصول پورونه شتون لري. ښاغلی "این جي" زیاتوي چې د بازل I نه وروسته د بازل II معیارونو پلي کول د ویتنام د بانکي سیستم د پانګې کم ترکیبونه په ډاګه کوي چې په دې وروستیو کې د پورونو د چټک زیاتوالي له امله کم شوي دي. د ویتنام په بانکونو کې د پانګې کموالی له خطره ډکې شتمنۍ د زیاتوالي له امله د پام وړ زیات ښودل شوی چې د پور زیات خطرونه او د عملیاتي خطرونو لپاره د پانګې لګښتونه یې ستر لاملونه په ګوته شوي دي. د یادونې وړ ده چې په سیمه کې پیاوړي اقتصاد لرونکي هېوادونه هم تر فشار لاندې دي. له دې ډلې د چین هېواد د کافي ګټې د نه شتون له امله خو خپله اقتصادي وده پرې دوامداره وساتي، د پانګې تر فشارونو لاندې دی. په (Fitch) اداره کې د چین د لویو بانکونو رئیس، ښاغلی "ګراس وو" وایي چې: " د چین بانکونه اوس مهال د پانګې شته شرایط په بشپړه توګه پلي کوي، خو زیات شمېر یې لا هم د کمو مقرراتي شرایطو پر وړاندې د پانګې ډېر محدود ترکیبونه لري."

**په هند کې ستونزې**

هند یو له هغه هېوادونو څخه دی چې د یادو ستونزو سره هم مخ دی، خو دا هېواد د دې ستونزو په پام کې نیولو سره د پانګې د شرایطو د پوره کولو لپاره هلې ځلې کوي. په (Fitch) اداره کې د هند د مالي ادارو د ټیم مشر، ښاغلي"سسواتا ګوها" وایي چې د دې هېواد دولتي بانکونه په دې وروستیو کلونو کې د شتمنۍ دکیفیت د ټیټوالي له امله تر فشارونو لاندې راغلي دي. د (Fitch) اداري د سنجش له مخې د ۲۰۲۱ کال تر مارچ پورې د ۷ میلیارده ډالرو تازه ونډو اخیستلو ته اړتیا ده څو د بازل III د پانګې شرایط پوره کړي.

ښاغلی ګوها زیاتوي چې د پیسو دا مقدار لا هم اړتیاوې نشي پوره کولای او دا پیسې د ۲۰۲۰ مالي کال په اوږدو کې د دولت له لورې د ۱۰ میلیارده پانګې چمتو شوې بودجې پرته اضافي پیسې دي چې د دولتي بانکونو د پانګې لومړنۍ اړتیاوې پوره کوي په داسې حال کې چې په وده کې تر یوې اندازې تشه رامنځته کوي. د نوموړي په وینا د ونډو بازارونو ته د دولتي بانکونو لاسرسی ډېر کم دی سره له دې چې دولت دوی ته په دوامداره توګه پانګه هم په واک کې ورکړې ده. برعکس، خصوصي بانکونه بیا تازه ونډو ته خورا ښه لاسرسی لري. د نوموړي د وړاندوینې له مخې به په ۲۰۲۱ مالي کال کې دوروستیو پایلو او بهیرونو پر بنسټ چې د بانکونو په پورونو کې د ۱۵ سلنه زیاتوالي اټکل شوی دی چې دا کار د هند د پورونو د ورکړې کچه کموي. د اړتیا وړ پانګې اټکلي کموالی د (Fitch) اداري له لورې په لومړیو کې د ۲۵ میلیارده ډالرو اټکل شوې کچې په پرتله ممکن اوس ۱۷ میلیارده ډالره وي.

د هند په بانکونو کې د ستونزو ستر لامل

»

پر دوی باندې د مخنیوي کوونکو اقداماتو ترسره کیدل دي. د هند د ICIC بانک د لوی مالي رئیس، ښاغلی "راکش جا" په وینا تر ټولو مهمه خبره دا ده چې د هند د زیرمو بانک (RBI) باید د بانکونو د څارنې لپاره د بازل کمېټې (BCBS) له لورې د ټاکل شوې نړیوالې کچې (۵.۵ سلنې) په پرتله له ۱ سلنې څخه زیاته پانګه ولري. د پانګې د زیرمې په ګډون ټولیزې اړتیاوې هم باید د نړیوالې کچې (۱۰.۵ سلنې) په پرتله ۱ سلنه زیاتې (۱۱.۵ سلنه) وي. د ښاغلي جا په وینا د بازل II او بازل III معیارونو ترمنځ یو تر ټولو ستر بدلون د پانګې ونډې دي او د عادي ونډو د اصلي پانګې ارزښت د بازل III تر شرایطو لاندې د پام وړ زیاتوالی موندلی دی. د پانګې د کفایت په ۱۱.۵ سلنې شرط کې د زیرمه شوې پانګې د ترکیب په ګډون په هند کې باید د اصلي پانګې ونډې ۸ سلنه وي. له همدې امله د ځینو اندیښنو پر بنسټ د پانګې لوړې کچې په هند کې د ودې پر وړاندې خنډ جوړوي چې د ځینو اضافي شرایطو له منځه وړلو په ترڅ کې د پور ورکولو لپاره ۷۶ میلیارده ډالر پاتې کیږي.

**د ټولیزه زیان د جبران د ظرفیت شرایط**

سره له دې چې آسیایي بانکونه هم د بازل III معیارونو د پوره کولو لپاره هلې ځلې کوي،خودوی لا هم د ټولیزه زیان د جبران د ظرفیت د شرایطو تر فشار لاندې دي چې په سیستماتیکه توګه مهمو بانکونو ته ورکول کیږي. د ۲۰۱۹ زیږدیز کال له جنورۍ راهیسې دوی اړ دي څو ۱۶ سلنه له خطره ډکې شتمنۍ ولري او د ۲۰۲۲ زیږدیز کال تر جنورۍ پورې دا کچه باید ۱۸ سلنه وي.سربیره پر دې، خورا پرمختللي بازارونه هم تر دې فشارونو لاندې راځي. د دې شرایطو پر بنسټ د جاپان بانکونه اړ دي څو خپلې شتمنۍ ۸۰ میلیارده امریکایي ډالرو او د چین بانکونه یې باید ۴۶۷ میلیارده امریکایي ډالرو ته لوړې کړي. همدا ډول د استرالیا بانکونه باید خپلې شتمنۍ له ۵۰ څخه تر ۶۰ میلیارده امریکایي ډالرو پورې لوړې کړي. د ښاغلي" کو"په وینا دا شرایط پر بانکونو اغیزه لري چې له همدې امله د جاپان لوی بانکونه، د چین څلور لوی بانکونه او د استرالیا او هانګ کانګ بانکونه باید په دې برخه کې اقدامات ترسره کړي. دوی اړ دي چې د دې شرایطو د پوره کولو لپاره بیه لرونکې پاڼې صادرې کړي.

د ښاغلي" کو "په خبره د ټولیزه زیان د جبران د ظرفیت شرایطو پر بنسټ ممکن چین په راتلونکې کې له ستونزو سره مخ شي ځکه چې چین په راتلونکي کې په یوه پرمختللي هېواد بدلیږي. چین د دې شرایطو د نه پوره کولو له امله لا هم د پرمختګ په حال کې هېوادونو په کتار کې راځي، نو په همدې توګه اړ نه دی څو تر ۲۰۲۵ زیږدیز کال پورې دا شرایط پلي کړي. د چین د پورونو بازار د پراخیدو لپاره لا هم وخت شته او د اضافي فشارونو د کابو کولو لپاره د پورونو د ورکړې بازار لا پراخه کړي. د ښاغلي "ګیلډر"په وینا چین نوې بیه لرونکې پاڼې ورکړې نه دي او د دې پاڼو د ورکړې له لارې هڅه کویځو د ټولیزه زیان د جبران د ظرفیت شرایط پوره کړي.

د پورتنیو شرایطو د پوره کولو لپاره د آسیا د پاسفیک سیمې هېوادونه اړ دي څو د پورونو د ورکړې یو پیاوړی بازار رامنځته کړي. خو له دې امله چې د پورونو بازار ننګونې رامنځته کوي، د آسیا پاسفیک سیمې هېوادونو بانکونه دې ته اړ کوي څو د نورو سیمو د بانکونو د چارو د تنظیمونکو له لورې جوړ شوي اصول په پام کې ونیسي.

سرچینه:The Banker (December 2019)

ژباړه: توحیدالله صافی




# موبایل پیسې
# ( Mobile Money )
# څه ته وايي؟

موبایل پیسې یوه ټکنالوژي ده چې خلکو ته اجازه ورکوي چې په خپل موبایل کې پیسې ذخیره، مصرف او یا یې بل کس څخه تر لاسه کړي. کولای شو موبایل پیسې (Mobile Money) ته د یو الکترونکې بټوې ( Electronic wallet) نوم هم ورکړو. په نړۍ کې هغه شرکتونه چې له موبایل پیسې (Mobile Money) څخه ګټه اخلی، هغوی خپلو شرکتونو ته ځانګړي نومونه ورکړي دي. د بیلګې په توګه لکه ایم پیسه (M-pesa)، ایکوکیش(EcoCash)، جی کیش(GCash) او داسې نور.

موبایل پیسې له ۲۷۰ څخه په زیاتو بیلابیلو برخو کې خدمتونه وړاندې کوي او په افریقا، آسیا او لاتیني امریکا کې ډېر کارول کیږي. موبایل پیسې د نغدي پیسو او بانک په ډول مشهوره دی، ځکه اسانتیاوې یې ډېرې دي. په هر ځای کې چې د ګرځنده ټلیفونونو خدمتونه شتون ولري، هلته تاسو کولاې شي د موبایل پیسې له خدمتونو څخه ګټه استفاده وکړئ.

موبایل پیسې څنګه کار کوی؟

موبایل پیسې په یو بربښنایي حساب (Electronic account) کې چې د موبایل له شمېرې سره تړاو لري، پیسې زېرمه کوي. په ځینو وختونو کې د موبایل پیسو نمبر د موبایل له نمبر سره یو شان وي، خو هر وخت نه زیات وختونه د موبایل پیسو خدمتونه د هغو شرکتونو »



یحیی همیم
د افغانستان بانک د مرکزی زون د شبکې
او سیستم پازوال

له خوا وړاندې کیږي چې په هېواد کې ټلیفوني خدمتونه وړاندې کوي. د بیلګې په توګه لکه په افغانستان کې وروستی مخابراتي شرکتونه.

د موبایل پیسو خدمتونه خپلو مشتریانو ته اجازه ورکوي تر څو د خپل موبایل په ذریعه پیسې تر لاسه کړي، بل چاته یې واستوي او یا یې هم ذخیره او زیرمه کړي. له هټیو څخه پرې توکې واخلي، په انلاین (پر لیکه) بڼه ورباندې سوداګري وکړي، د کور د برېښنا بیلونه تحویل کړي او کولای شي چې د موبایل پیسې شرکت لخوا په مشخص شویو ځایونو کې نغدې پیسې تر لاسه کړي.

که یو څوک وغواړي چې د موبایل پیسو له لارې بیل تحویل کړي او یا هم کوم بل کس ته پیسې واستوې، دوی د خپل موبایل پیسې د خدمتونو له مینیو څخه په ګټې اخیستنې سره کولای شي دا چاره ترسره کړي. که وواېو دا دومره ساده او آسانه طریقه ده، لکه یو لیکل شوی پیغام چې موږ له خپل موبایل څخه استوو.

د موبایل پیسې ګټې څه دي؟

نږدې هر هغه څوک چې موبایل ولري کولای شي له موبایل پیسې د خدمتونو څخه استفاده وکړي چې خدمتونه یې په لاندي ډول دي:

- ډېر خلک د موبایل پیسې له خدمتونو څخه په ګټې اخیستنې سره په خپلو موبایلونو کې پیسې ساتي، بل چاته یې استوي او له نورو څخه یې تر لاسه کوي.
- د موبایل پیسې استفاده کوونکي بې له دې چې دریېم کس سره په اړیکه کې شي یو بل ته پیسې استولای شي.
- د موبایل پیسې استفاده کوونکي په ډېرې چټکۍ سره پیسي یو او بل ته استولای شي.
- د موبایل پیسې استفاده کوونکي هر وخت بې له دې چې له خپل ځای څخه ولاړ شي د موبایل پیسې له خدمتونو څخه استفاده کولای شي په دې شرط چې د موبایل سیګنل موجود وي.
- د موبایل پیسې خدمتونه په هرې سیمه کې د سیمه یزو مالي مقرراتو لخوا خوندي کېږي، د استفاده کوونکو پیژندګلوي کنټل کیږي او د درغلي کوونکو او جنایتکارانو لپاره دا سختوي چې یاد خدمتونه په ناقانونه توګه وکاروي.
- د موبایل پیسې خدمتونه د بانکي او نورو مؤسساتو په نسبت د پیسو لیږد لپاره ټیټ فیسونه اخلي.

د موبایل پیسې لیږدول څه ته وایي؟

موبایل پیسې لیږدول یوه تګلاره ده چې یو کس کولای شي چې له خپل بانکې حساب، کریډیټ کارت، ډبیټ کارت او یا هم د خپل موبایل پیسې له حساب څخه د یو بل کس د موبایل پیسې حساب ته پیسې واستوي. د دې لپاره چې دا بهیر په بریالیتوب سره سرته ورسیږي، استوونکۍ او ترلاسه کوونکۍ دواړه د موبایل پیسې حساب ته اړتیا لري چې تر حساب جوړولو وروسته دوی کولای شي یو او بل ته پیسې واستوي.

په عمومي ډول مخابراتي شرکتونه د موبایل پیسې خدمتونه وړاندې کوي. لاندې دوه لوی شرکتونه درپیژنو چې د موبایل پیسې خدمتونه وړاندې کوي. نوموړي شرکتونه په افریقا او آسیا کې زیات پیژندل شوي شرکتونه دي:

MTN.1: د MTN مخابراتي شرکت د موبایل پیسې خدمتونه تر ۲۲.۲ میلیونه خلکو پورې رسولي دي او د نړۍ په ۱۵ هېوادونو کې ترې استفاده کیږي.

M-Pesa.2: د موبایل پیسې (M-pesa )خدمتونه یو بل پیژندل شوی شرکت دی چې د Vodafone د مخابراتي شرکت لخوا یې خدمتونه وړاندې کېږي. په کینیا، تانزانیا، افغانستان، سویلي افریقا، هندوستان او ختیځه اروپا کې یې خلک له خدمتونو څخه استفاده کوي.

موبایل پیسې په افغانستان کې؟

دا چې افغانستان د نورې نړۍ غوندې

»

پرمختللی هېواد نه دی او د هېواد په ډېرو ولسوالیو او کلیوالي سیمو کې خلک انټرنېټ ته لاسرسی نه لري چې د انلاین یا پر لیکه بانکي سیستمونو او یا خدمتونو څخه استفاده وکړي. یو بله ستونزه چې د افغانستان خلک ورسره مخ دي هغه د پوهې د کچې ټیټوالي دی. په ځینو ښارونو کې چې د انلاین او یا هم پر لیکه بانکي سیستم خدمتونه فعال دي، هلته بیا د ناپوهی ستونزه وي چې ډېر برخه خلک د انلاین بانکي سیستم له خدمتونو څخه استفاده نه شي کولای. د موبایل پیسې خدمتونه دغو دواړو مهمو ستونزو لپاره یو ډېره ښه او د حل اسانه لاره ده، تر څو خلک ورڅخه استفاده وکړي. د موبایل پیسې خدمتونه هر هغه ځای کې د استفادې وړ دي چې ستاسو موبایل سیګنل ولري او خدمتونو څخه یې ګټه واخېستل د انلاین یا پرلیکه له بانکي خدمتونو څخه ساده دي.

په افغانستان کې د موبایل پیسې شرکت له د افغانستان بانک څخه د کار جواز له تر لاسه کولو وروسته خلکو ته خپل خدمتونه وړاندې کولای شي. اوس مهال په افغانستان کې د موبایل پیسې د خدمتونو وړاندې کوونکي څلور شرکتونه فعال دي چې دا دي:

MoMo.1 چې د MTN مخابراتي شرکت لخوا یې خدمتونه وړاندې کیږي: د MTN مخابراتي شبکه چې یوه نړیواله مخابراتي شبکه ده. د نړۍ ۲۳۰ میلیونه خلک یې په ۲۲ هېوادونو کې له ټلیفوني خدمتونو څخه استفاده کوي. په افغانستان کې یې ټلیفوني خدمتونه له ۲۰۰۹م کال څخه پیل کړي دي او د موبایل پیسې خدمتونو د وړاندې کولو لپاره یې په ۲۰۱۹م کال کې له د افغانستان بانک څخه د کار جواز تر لاسه کړ.

M-Pesa .2 چې د روشن مخابراتي شرکت لخوا یې خدمتونه وړاندې کیږي: په ۲۰۱۳م کال کې روشن دویمه مخابراتي شبکه وه چې په افغانستان کې یې د ټلیفوني خدمتونو د وړاندې کولو لپاره لایسنس ترلاسه کړ.

د روشن مخابراتي شرکت د افغانستان په ټولو ولایتونو کې په ۲۴۰ ښارونو کې خلکو ته ټلیفوني خدمتونه وړاندې کوي. په ۲۰۰۸م کال کې یې د موبایل پیسې خدمتونو د وړاندې کولو لپاره له مرکزي بانک څخه جواز تر لاسه کړ.

M-Hawala .3 چې د اتصالات مخابراتي شرکت له خوا یې خدمتونه وړاندې کیږي: د اتصالات مخابراتي شرکت چې د یو عربي شرکت له لوری په ۱۹۷۶م کال کې منځ ته راغلي دي، د افغاستان په ګډون د نړۍ په ۱۵ هېوادونو کې له ۱۶۷ میلیونو څخه ډېر استفاده کوونکي لري.

My-Money .4 د افغان بیسم مخابراتي شرکت له خوا یې خدمتونه وړاندې کیږي: د افغان بیسیم مخابراتي شرکت لومړی شرکت ؤ چې په ۱۹۹۸م کال کې یې په افغانستان کې ټلیفوني خدمتونه وړاندې کړل. د موبایل پیسې خدمتونه یې د ۲۰۱۲م کال څخه پیل کړي دي.

پورته ټول ذکر شوي د موبایل پیسې شرکتونه په افغانستان کې د پیسو لیږد، د پیسو تر لاسه کول، د موبایل کریډیټ اضافه کول، د معاشاتو تر لاسه کول، د بېلونو جمعه کول، د نغدو پیسو تر لاسه کول، د کوچنیو پورونو ورکول، او نور خدمتونه وړاندې کوي.

هیره دې نه وي چې په افغانستان کې د موبایل پیسو شرکتونو ټولې معاملې د د افغانستان بانک د یو ځانګړي ټیم له خوا څارل کیږي.

سرچینې:

1 - All about Mobile Money/ What is Mobile Money?
https://www.worldremit.com/en/mobile-money

2 - My Money/ Afghan Wireless
https://afghan-wireless.com/e-payments/my-money/

3 – Roshan M - Pesa
https://www.roshan.af/en/business/m-paisa/services/

4 – MoMo/ Money that works for you
https://www.mtn.com.af/momo/

# مختصری در مورد علم اقتصاد

علم اقتصاد از جملۀ علوم اجتماعی بوده و مُبین اینست که دولت ها، شرکت ها و اشخاص چگونه از امکانات کمیاب یا محدود در مقابل خواهشات نامحدود استفاده می کنند.

همچنان در فرهنگ لغت آکسفورد، علم اقتصاد چنین تعریف شده است: اقتصاد عبارت از ارتباط میان تولید، تجارت و عرضۀ پول در یک کشور یا مکان مشخص و شبکه های از تولید کننده گان، توزیع کننده گان، مصرف کننده گان کالا ها و سایر خدمات در یک مکان می باشد.

در طول تاریخ بشر اقتصاد دانان جهان برداشت های مختلفی از علم اقتصاد داشته اند، بطور نمونه الفرد مارشال یکی از اقتصاد دانان برجسته قرن نوزدهم در کتاب خود بنام "مبانی علم اقتصاد" علم اقتصاد را مطالعۀ بشر در مسیر عادی زندگی می گوید، نامبرده به این عقیده است که علم اقتصاد، رفاه مادی بشر را تأمین می نماید.

همچنان آدم اسمیت که پدر علم اقتصاد نوین گفته می شود، علم اقتصاد را علم ثروت می داند. دیوید ریکاردو اقتصاد را علم توزیع ثروت می گوید. از دیدگاه لیونل رابینز، علم اقتصاد عبارت از تخصیص منابع محدود است.

به همین ترتیب اقتصاد دانان انگلیسی می گویند که اقتصاد عبارت از علمی است که به بررسی رفتار بشری به عنوان رابطه میان اهداف و وسایل محدود پرداخته و رو به تکامل می باشد.

از مطالعه موارد فوق به این نتیجه می رسیم که کار برد علم اقتصاد عبارت از این است که رفتار و تعامل اقتصادی را مورد بحث قرار داده و آنرا به دو بخش خُرد و کلان تقسیم می نماید.

در اقتصاد خُرد، عوامل فردی نظیر خانوار ها، شرکت ها، خریداران، فروشنده گان و مصرف کننده گان انفرادی مورد بحث قرار گرفته، به چگونگی تعامل میان تقاضا کننده گان، عرضه کننده گان و عوامل مهم در انتخاب خریداران می پردازد. در اقتصاد خُرد کالاهای مختلف ارزش های مختلف داشته و چگونه افراد می توانند در مورد خرید کالا تصمیم خوبتر و کارآمد تر بگیرند.

همچنان در اقتصاد خُرد به افراد به عنوان کارگران، مصرف کننده گان نهایی، تولید کننده گان سرمایه، به شرکت های اقتصادی به عنوان مصرف کننده گان سرمایه و تولید کننده گان محصولات

»



نگاه می کند. اقتصاد خُرد در مقایسه با اقتصاد کلان دقیق تر و کامل تر می باشد. یکی از اهداف عمدهٔ اقتصاد خُرد را بررسی بازار و بر قراری رابطهٔ پولی میان کالاها و خدمات تشکیل می دهد و به سرمایه گذار نشان می دهد که چگونه سهم یک شرکت ممکن سقوط می کند.

در مقابل، اقتصاد کلان به پدیده های وسیع تر اقتصادی مانند درآمد ملی، سطح تولید، سطح اشتغال، رشد اقتصادی، دستمزد افراد جامعه، بررسی و روابط بین متغیرها جهت اتخاذ سیاست های مناسب در آینده و پیش بینی مشکلات اقتصادی که ممکن در آینده ها بوقوع بپیوندد، می پردازد.

هدف از پژوهش های کلان اقتصادی عبارت از بالا بردن درک و فهم کُلی از چگونگی کارکردهای اقتصادی و میزان واکنش اقتصاد به یک سیاست خاص اقتصادی و دامنه های وسیعی از شوک های عرضه و تقاضا بوده که می توانند موجب بی ثباتی اقتصادی شوند. اقتصاد کلان در چارچوب ارائه برنامه منطقی، برای اینکه کدام سیاست اقتصادی باید مورد اجراء قرار گیرد، می اندیشد و سیاست های اقتصادی را تعیین و ارزیابی می نماید. در بسیاری از مکتب های اقتصادی، اقتصاد کلان به عنوان اقتصاد کینزی شناخته شده و این نظریه نوعی از سیاست اقتصادی و سیاسی بوده که دولت ها توسط آن از بروز بحران های نظام اقتصادی جلوگیری می نماید.

در مجموع، سطح کلان متغیر های اقتصادی مانند سرمایه گذاری، تولید، مصارف دولتی، پس انداز و ...، در اقتصاد کلان مورد بررسی قرار می گیرند. اهداف اقتصاد کلان چه در گذشته و چه در حال اندک تفاوت های را در سیاست گذاری های دولتی در امور اقتصادی داشته، اما در کُل در سیستم تطبیق اقتصاد کلان کدام تغییرات عمده رونما نگردیده است.

اهداف عمده اقتصاد کلان شامل یک تعداد موارد چون اند که در ذیل بطور خلاصه از آنها یادآوری می گردد:

- رشد و توسعه اقتصاد دوامدار: در این بخش هدف نهایی مادی و معنوی اقتصادی کُل جهان است، در حقیقت آنچه در تابع تولید موجب رشد اقتصادی می شود.
- ثبات قیمت ها: در این بخش سیاست گذاران سعی می کنند که طوری عمل نمایند تا قیمت کالاها نوسانات زیادی نداشته باشند.
- اشتغال: در این بخش باید بیکاری محو و یا حد اقل به کمترین سطح باشد.

عبدالحفیظ شاهین

منابع:


۱- اقتصاد خُرد چیست ؟ تفاوت اقتصاد خُرد با اقتصاد کلان https://tahlileghtesadi.com -۱

تاریخ نشر : ۹ / ۴/ ۱۳۹۸

[PDF]الصغيرة والمتوسطة من خلال زيادة تنافسية المؤسسات استخد//:https escwa -

۲- www.unescwa.org › file

https://www.investopedia.com › Economy › Economics-3

Understanding Microeconomics vs. Macroeconomics – Investopedia







# چټک غبرګون کوډ( QR Code ) څه ته وایي او په تادیاتو سیستم کې څرنګه کارول کیږي

د چټک غبرګون کوډ ( Quick Response Code) دوه اړخیزه کوډ دی چې له تور او سپین څلور ضلعي شکل ته ورته جوړ شوی دی او د ګرځنده ټیلیفون کیمرې یا نورو مشخصو وسایلو په ذریعه لوستل کیږي.

په ۱۹۹۰ کال کې د ډنسو واو ( Denso Wave) په نوم جاپاني شرکت QR کوډونه د ټیوټا (Toyota) لپاره اختراع کړ. په پیل کې QR کوډونه د موټرو په صنعت کې لکه تولید، تعقیب او بار وړلو لپاره کارول کېدل. وروسته بیا د موټرو د صنعت څخه بهر په نورو برخو لکه توکي پېژندنه ( Identification) او بازار موندنه ( Marketing) کې هم کارول کېدل.

د QR کوډونو کارونه د تادیاتو لپاره لومړی ځل په چین هېواد کې پیل شوه او بې ساري کارول یې د ۲۰۱۱ په وروستیو کې دود شوه.

کله چې په چین کې WeChat او Alipay شرکتونو د QR کوډ ګرځنده ټلیفون تادیه کولو ځانګړي خدمتونه پیل کړل او سوداګرو ته یې دا وړتیا ورکړه چې د ډیجیټل تادیات په آسانه طریقه یعني پرته له دې چې د هارډویر پانګوونې ته لکه د پلور ټرمینل ( Point of Sale) یا نورو اووسایلو ته اړ شي.

**کارونه**

د چټک غبرګون کوډ ( QR) د مشخص پروګراومونو په کارولو سره رامنځته کیږي او کولای شي چې ډیر معلومات زیرمه کړي.

د QR کوډونه او بارکوډونو تر مینځ یو لوی توپیر دا دی چې د QR کوډونه له کاغذ او سکرین دواړو څخه سکېن کېدلای شي. خو بارکوډونه یوازې د کاغذ څخه سکېن کېدلای شي همدا لامل دی چې QR کوډونه په کاریال (App) او همدارنګه آنلاین پلورنځیو کې د استفادې لپاره موجود دي.

د QR کوډ سکېن کولو لپاره، اړتیا وړ »

توکي:

- یو بارکوډ لوستونکي چې د QR کوډونو سکېن کولو وړتیا ولري.
- ټبلېټونه، ګرځنده ټلیفونونه او نور ځانګړي وسایل چې کېمره ولري.

نن ورځ په نړۍ کې د ډیرو QR کوډونو د سکېن کولو او د تادیاتو لپاره په ګرځنده ټلیفونونو کې کاریال (App) شتون لري چې کاروونکو ته اجازه ورکوي، څو په ډېره آسانۍ سره د QR کوډونه سکېن کړي. سربېره پردې ځینې نور د تادیاتو او بانکوالۍ کاریالونه (App) هم شتون لري چې کولای شي بانکي حسابونو ته لېږد او رالیږد او د تادیاتو په برخه کې د استفادې وړ وګرځي. همدارنګه ډیرې نورې لارې شتون لري چې QR کوډونه په کې طی مراحل کېدای شي چې ځینې یې په لاندې ډول ذکر شوي دي:

1. **د سوداګرو له خوا وړاندې شوي QR کوډونه (Merchant presented QR Codes):**

کارونکي باید لومړی کېمره خلاصه کړي او د QR کوډ په لور یې ځای په ځای کړي؛ کاریال (App) سم د لاسه QR کوډ پېژني او په تعقیب یې د لېږد علامه خلاصوي. تر هغې وروسته کارونکي د عملیاتو د پای ته رسولو لپاره علامه انتخاب کړي، ترڅو تاکل شوې پیسې د پلورونکي حساب ته انتقال شي .د دې طریقې ګټه دا ده چې په کم لګښت او آسانه کارول کېږي .پر دې سربېره‌پلورونکي د پلور ټکنالوژۍاو اضافي وسایلوته اړتیا نلري او کولای شي چې په‌ساده کوډ QR ډول د پیرودونکو لپاره‌ونه سکېن‌او چاپ کړي.

2. **QR د پیرودونکو لخوا وړاندې شوي کوډونو (Consumer presented QR Codes)**

کله چې د پلورلو ټولیزه کچه د پلور ټرمینل (POS) په سیستم کې وټاکل شي، نو بیا کارونکي د تادیاتو کاریال (App) خلاصوي او QR کوډ څرګندیږي چې د کارونکي د کارت مشخصات په کې شامل وي. پلورونکی بیا د سکېنر په واسطه QR کوډ سکېن کوي او معامله تر سره کیږي.

د علي پې (Alipay) تادیه کاریال (App) په نړۍ کې تر ټولو ډیر QR د کوډ کارول‌شوی سیستم دی. چې‌نږدې ۱۵ میلیون چینایي کوچني سوداګرۍ په ۲۰۱۹ زیږدیز کال کې له دې لارې تادیات منلي دي او په هند کې ۹ میلیون سوداګر د پیټیم (Paytm) ډیجیټل والټ چې د QR کوډونو د تادیاتو لپاره کارول کیږي، استفاده کړې. همدارنګه په نیدرلینډ کې iDEAL، بلجیم Bancontact، برازیل Cielo او شمالي امریکا کې بیا Apple Pay, PayPal and Amazon Pay د QR کوډ تر ټولو لوی تادیه کاریالونه (App) دي چې په ورځنۍ توګه کارول کیږي.

**QR کوډونه او مالي پراختیا**

په بېلابېلو وختونو کې کارتونه، ګرځنده ټلیفونونه او نږدې سیمې مخابراتو (NFC) د مالي پراختیا په برخه کې ډیر اړین ګڼل کېدل، خو نن ورځ QR کوډونو تادیات په ځینو هېوادونو لکه چین او هند د مالي شمولیت د پراختیا په خاطر د ټیټ لګښت له کبله د یو مهم تادیاتي سیستم په توګه مني. په ځانګړې توګه هغه »

هېوادونه چې اقتصاد يې د پرمختګ په حال کې وي، مرکزي بانکونه يې د ديجيټل تادياتو او QR کوډونو کارولو لپاره په پراخه کچه ملاتړ او پانګونه کوي.

QR کوډونه کولای شي په پراخه کچه په مالي پراختيا او بانکي محصولاتو باندې تأثير ولري. په لرو پرتو سيمو کې د لګښت کوونکو لپاره چې ټيټ عايد ولري ستونزمنه ده چې ډيجيټلي پيسې وکاروي، حتی که دوی پلاستيکي کارت يا ټليفون هم ولري. او د POS ټرمينلونه نصب کول په پلورنځيو کې خورا ډېر لګښت غواړي او د خلکو شموليت په مالي سيستم که ستونزمن کوي. په اوسني وخت کې د QR کوډ سيستم سوداګرو او خلکو ته د ډيجيټل تادياتو منلو لپاره يوه ارزانه او آسانه لار برانيستلې ده. يوځل چې د QR کوډ تاديه کول په پراخه کچه په يو هېواد که عام شي، نو د لګښت کوونکو لپاره به آسانه وي چې د دوی په ټليفون کې ذخيره شوي پيسې په ورځنۍ توګه وکاروي.

**د QR کوډونو کارولو ګټې:**

**ګړندي تاديات:** د QR کوډونو کارولو ترټولو لويه ګټه دا ده چې تاديه کول خورا ګړندي کوي. ټول کارونکي کولای شي چې په ساده ډول د QR کوډ اپليکېشن خلاص او QR کوډ سکېن کړي او د تادياتو پروسه په څو ثانيو کې تر سره شي.

**خونديتوب:** د QR کوډونو له لارې تاديه کول خوندي دي. ځکه چې د QR کوډ يوازې يوه وسيله ده چې د معلوماتو د تبادلې لپاره کارول کېږي، بلکې کوم معلومات چې د QR کوډونو له لارې لېږدول کېږي کوډ شوي وي، نو پدې توګه د تادياتو د خونديتوب تضمين کوي.

**آسانه توګه تنظيمول:** د QR کوډ تادياتو تنظيمول خورا آسانه دي. پلورونکې ډېرو زيربناوو ته اړتيا نلري. يوازې د ګرځنده ځيرک ټليفون او QR کوډ ته اړتيا لرئ کوم چې چاپ شوی وي يا بريښنايي بڼه ولری. د تادياتو لپاره د QR کوډونو د کارولو د پلور ماشين (POS) اړتيا يا د تادياتو لپاره نورو کارول شويو ځانګړو تجهيزاتو کاروني اړتيا کموي.

**لوړ باور:** د QR کوډ تاديات، د تادياتو خوندي لاره ده، ځکه چې د هر ډول اشتباه احتمال له مينځه وړي. سربېره پر دې د تورو بکسونو ځانګړي معلومات لري چې د QR کوډ د تادياتو اعتبار لوړوي. •

مطيع الله ستانکزی

سرچېني:


1 - https://www.digipay.guru/blog/everything-you-need-to-know-about-qr-code-payments/

2 - https://www.mobiletransaction.org/qr-code-payment-works/

3- https://blog.beaconstac.com/2019/12/qr-code-statistics/

# په سوداګرۍ کې د آنلاین بازار موندنې ارزښت

څېړنې ښيي چې په تېر زېږديز کال کې د ټولنيزو رسنيو د کاروونکو شمېر د تېرو پنځو کلونو په پرتله درې ځله زيات شوی دی.

په روان ۲۰۲۰ زېږديز کال کې د ټولنيزو رسنيو د کاروونکو شمېر ۳.۰۸ ميليارد کسانو ته رسېږي او داسې وړاندوينه کېږي چې دا شمېر به تر ۲۰۲۳ زېږديز کال پورې ۳.۴۳ ميليارد کسانو ته لوړ شي.

د دې څېړنو پر بنسټ د نړۍ د ټول نفوس ۲۲سلنه يې په فيسبوک کې حسابونه لري او په منځني ډول د دې شمېر کسانو هر يو يې په منځني ډول ۲ ساعته وخت په فيسبوک او نورو ټولنيزو رسنيو کې تېروي.

د ټولنيزو رسنيو ۱۰ سلنه ځوانو کاروونکو په يوه څېړنه کې ويلي چې دوی د برنډ سوداګريزو توکو د تر لاسه کولو لپاره له ټولنيزو رسنيو ګټه پورته کوي. په څېړنه کې راغلي چې ياد شمېر کسانو ويلي چې له دې لارې يې ۴۸ سلنه هغه سوداګريز توکي خوښ شوي او پېرودلي دي چې دوی يې د پېرودلو تابيا درلوده.

په همدې ډول ويلای شو چې په نړۍ کې د نورو بې ساري پرمختګونو ترڅنګ د تکنالوژۍ په برخه کې رامنځته شوي بدلونونه او پرمختګونه هغه څه دي چې تر ډېره يې د انسانانو پام ځانته ور اړولی او په دې برخه کې د هرې ورځې په تېرېدو سره نور پرمختګونه هم رامنځته کېدونکي دي.

که سوداګر غواړي چې توليدات او خدمتونه يې وده وکړي او زيات پېرودونکو خپل کړي په کار ده چې پرليکه يا د انټرنټ له لارې هم خپل خدمتونه له پېرودونکو سره شريک کړي.

د دې چارې ګټې دا دي چې په دې سره د کمپنيو خاوندان خپلو پېرودونکو ته په آنلاين ډول د توليداتو او د يادو توليداتو د بيو په اړه معلومات ورکولای شي.

بايد وويل شي چې په آنلاين چارو کې سوداګرخپلې سوداګريزې خبرتياوې د ټولنيزې مېډيا له لارې خپروي او په دې سره د پېرودونکو ذهني تصوير او رضايت ترلاسه کوي.

دوی پېرودونکي د خپلو توليداتو لپاره لېواله کوي، کله چې په آنلاين ډول سوداګريزې خبرتياوې کېږي د کمپنۍ رقابت کوونکي هم له سقوط سره مخ کېږي او په دې سره د رقيبو کمپنيو توليدات څوک نه خوښوي او يادې کمپنۍ د مارکېټ غټه برخه له لاسه ورکوي.

دا مهال چې خلکو ډېر پام ټولنيزو شبکو ته اړولی په مقابل کې يې سوداګريزې کمپنۍ هم هڅه کوي چې د خپلو توکو او خدمتونو لپاره داسې کليپونه، تصويرونه او لنډې وېډيو ګانې په ټولنيزو شبکو ( فېسبوک، ټوېټر، لنکډېن، ګوګل ) او داسې نورو شبکو له لارې خپاره کړي چې د نړۍ په هر ګوټ کې پيرودونکي ورته لاس رسی ولري او دوی وکولای شي توليدي توکي د يو سمپل يا نمونې په توګه خوښ کړي.

په ټول کې ويلای شو چې آنلاين بازارموندنه د سوداګريزو کمپنيو لپاره بنسټيز ارزښت لري او سوداګرو ته په کار ده چې د خپلو سوداګريزو مرکزونو د سيمې د خلکو داړتياوو په پام کې نيولو سره سم توکي توليد کړي او بيا يې د پلور لپاره بازارموندنه وکړي.

**سرچينې:**

1 – What Is the Value of Digital Marketing?
By: Angela Hausman، PhD
https://www.business2community.com/digital-marketing/value-digital-marketing-01410760

2 – The Importance of Digital Marketing: Top 10 Reasons You Need It
By: Sean – September 25، 2019
https://www.lyfemarketing.com/blog/importance-of-digital-marketing/

3 – Number of social network users worldwide from 2010 to 2023
Published by J. Clement, Apr 1, 2020
https://www.statista.com/statistics/278414/number-of-worldwide-social-network-users/

# پیوند دیجیتل سازی با زنده گی بشریت

در شرایط کنونی، دیجیتل سازی با بخش های عمدهٔ زنده گی بشریت گره خورده است. امروز ما قادر نیستیم تا تکنالوژی دیجیتلی را از زندگی خود حذف نمائیم، اگر بشریت امروز تکنالوژی دیجیتلی را در زنده گی خود نادیده بگیرند، پیشبرد بخش عمدهٔ زنده گی شان غیر ممکن خواهد شد.

دامنهٔ استفاده از تکنالوژی دیجیتلی در زنده گی ما روز بروز وسعت می یابد که تا آخر زنده گی ما در تطبیق و دانستن آن نایل نخواهیم شد. به همین علت، در اکثر کشور های جهان دانش تکنالوژی در برنامه های آموزشی شان افزوده شده است.

ما هم اگر واژه ها و مفاهیم تکنالوژی را آموخته و با برخی از ابزارهای عمومی آن آشنا شویم، آنگاه می توانیم در اکثر بخش های زنده گی خود که به سیستم دیجیتل ارتباط دارد، استفاده مؤثر و ممد نمائیم.

در شرایط کنونی اقتصاد بسوی دیجیتلی شدن حرکت می نماید، که از آن به عنوان انقلاب چهارم صنعتی یاد می گردد و پایه های اساسی آن را تکنالوژی دیجیتلی تشکیل می دهد. بر اساس گفته های اقتصاد دانان مشهور جهان، اقتصاد دیجیتلی توانسته در اکثر کشور های کم درآمد و کمتر توسعه یافته شغل و درآمدزایی ایجاد کند.

در حال حاضر، ربات ها، هوش مصنوعی، انترنت، پرنتر های چند بعدی، پرداخت های الکترونیک و ...، از نمونه های اقتصاد دیجیتلی محسوب می گردند. جهان امروز برای توسعه اقتصاد دیجیتلی خود روی پلتفرام ها، تجارت الکترونیک، ارقام و داده های دیجیتلی و سایر پیشرفت های دیجیتلی تمرکز می نمایند.

در سال ۲۰۱۵ خدمات دیجیتلی بخش موبایلی در افریقا بیشتر از ۱۵۰ میلیارد دالر امریکایی ارزش اقتصادی داشته است. در سال ۲۰۱۷ سیستم خدمات موبایلی در حدود ۳ میلیون شغل ایجاد کرده و در حدود ۱۴ میلیارد دالر درآمد مالیاتی داشته است و همچنان بخش اطلاعات دیجیتلی در سال ۲۰۱۸ در حدود ۱/۱ میلیارد دالر امریکایی درآمد داشته است.

فعالیت های قاره افریقا در بخش استفاده از دیجیتل یک الگوی بسیار خوب برای کشورهای کم درآمد و در حال توسعه است.

باید گفت که این کشورها از سه روش در رسیدن به توسعه اقتصادی کار گرفته اند که در ذیل به آنها اشاره می گردد:

- این کشورها، بر اساس تکنالوژی دیجیتلی بر شفاف سازی خدمات دولتی توجه کردند که باعث صرفه جویی مالی آنها گردید.
- کشور های افریقایی توانستند که با استفاده از خدمات دیجیتلی، زمینهٔ کار و فعالیت را برای شرکت های کوچک و متوسط مهیا سازند. به همین علت، این شرکت ها بیش از ۸۰ درصد تجارت افریقا را تشکیل میدهند.
- توسعه بخش خدمات دیجیتلی در افریقا، بستر خوب برای اتخاذ سیاست های درست در بخش های حمل و نقل، بخش های مختلف صحی و ...، می باشند که بطور نمونه می توان از شرکت " ایسون بی پی او " نام برد که بیش از ۱۰ هزار کارمند در مرکزهای تماس در کشورهای مانند گانا، نایجریا، لیبریا، سریلیون، چاد، بورکینافاسو و ...، دارد.

در سال ۲۰۱۸، بیشتر از نیمی جمعیت جهان به انترنت وصل بوده و شرکت ها در این عرصه در حدود ۱.۲ بیلیُون دالر امریکایی سرمایه گذاری کرده اند. در جریان سال ۲۰۱۸ ارزش صنعت کمپیوتر حد اقل به ۱۲۷ میلیارد دالر امریکایی رسید و خدمات ارزش افزوده مرتبط با انترنت اشیاء در حدود ۱۲۰ میلیارد دالر امریکایی بود. بررسی ها نشان میدهد که تا سال ۲۰۲۲، حدود ۶۰ درصد تولید ناخالص داخلی جهان دیجیتلی می گردد.

عبدالحفیظ شاهین

منابع:


۱ كلية التجارة – جامعة بنها fcom › www.comm.bu.edu.eg

۲–دانلود ترجمه مقاله بررسی مدیریت راهبردی دانش در دوران دیجیتال ... مدیریت دانش استراتژیک ›مدیریت استراتژیک › ... › https://farapaper.com

۳- What is Information Literacy? - Information Literacy: Guide for InfoLitStudents https://libguides.madisoncollege.edu



## ګرانو هېوادوالو!

## ملي بيرغ، ملي سرود او ملي پيسې زمونږ ملي ارزښتونه دي

### اطلاعيۀ د افغانستان بانک

به تعقیب اطلاعیه قبلی؛ د افغانستان بانک یک بار دیگر به اطلاع هموطنان عزیز می رساند که تعدادی از افراد در مرکز و بعضی از ولایات هنوز هم تحت نام تجارت آنلاین فورکس به معاملات مالی اقدام می نمایند. د افغانستان بانک تا اکنون به هیچ فرد یا شرکتی جواز فعالیت آنلاین فورکس را صادر ننموده و تمام فعالیتها در این زمینه غیر قانونی می باشد. از اینکه داد و ستد با چنین افراد و شرکت ها عاری از خطر نبوده و زیان های مالی را برای هموطنان ما به بار می آورد، از هموطنان عزیز جداً تقاضا می نمائیم تا از انجام معاملات با چنین افراد و شرکت ها خودداری نمایند.

د افغانستان بانک در تلاش است تا افرادی که چنین فعالیت ها را راه اندازی می نمایند، شناسایی نموده و به ارگانهای عدلی و قضایی معرفی نماید.

# چکیدۀ
# از رویدادهای مهم ماه




برنامۀ تقدیر از کارکردهای محترم اجمل احمدی سرپرست ریاست کُل دافغانستان بانک از سوی اتحادیه سراسری صرافان و خدمات پولی افغانستان



د افغانستان بانک، افغان پُست او د افغانستان د بانکونو تولنې ترمنځ د بانکی خدمتونو د وړاندې کولو په موخه د هوکړه لیک لاسلیک



برگزاری موفقانهٔ انتخابات فدراسیون اتاق ها




د بیرغ د ملي ورځې په مناسبت د د افغانستان بانک په اډانه کې غونډه



# بانک

ماهنامۀ د افغانستان بانک

سال چهاردهم شماره ۱۵۸، اسد ۱۳۹۹



## خپلواکي مبارک!

**خپلواکي؛ زمونږ ملي ویاړ دی!**

**افغانۍ هم زمونږ د ویاړ، اقتدار او ملي هویت نښه ده**